# په سويـــــــډن کې د

# پښتو ژبې د تدريس

# يوولسم کتاب

# ۱۱

ترتيب کوونکئ : عبدالعلي رسول زاده

۱۷ / ۸ / ۲۰۰۹

# تر پیل د مخه څو خبرې

د لوی او بې ساري خدای په نامه په سویډن کې د یمنازیه ښوونځي د (ب) کورس (دوهم ټولګي) د پښتو ژبې د تدریس د نوئ کتاب په لیکلو پیل و کړ. دا کتاب د هغه کورس پلان سره برابر لیکل سوئ دئ کوم چې د سویډن د ښوونځیو د وزارت د تدریساتو د ریاست له خوا د نوموړي ټولګي د پاره لیکل سوئ دئ.

تر کورس پلان وروسته بیا هغه د کار پلان پکښې په نظر کې نیول سوئ دئ کوم چې ښوونکي یې په خپله د دغه تدریس د پاره لیکي.

پدې کتاب کې د هر لوست د پاره یو شمېر تمرینونه هم لیکل سوئ دي کوم چې د ډېره وخته یې نورو ښوونکو غوښتنه کوله. د کتاب په وروستیو پاڼو کې د کتاب مشکل لغاتونه هم ځای لري. ګران زده کوونکي کولای سي چې په ډېره اساني سره د کتاب د لغاتو مشکل هم حل کي.

د دې کتاب تر څنګ د ګرامر جلا کتاب زده کوونکو ته ور کول کیږي. دا چې د مورنۍ ژبې پښتو په دغه تدریس کې د زده کوونکو خوښه هم په نظر کې نیول کیږي نو که کومه موضوع چې په دې کتاب کې نه وي او زده کوونکي یې غوښتنه کوي بیا د پښتو ژبې په پاڼه www.pashto.se کې نور معلومات سته. د دې کتاب د راټولولو د پاره د یو زیات شمېر افغاني کتابو څخه هم مضامین را ټول سوي دي.

د دې کتاب په هکله د لوستونکو نظریو ته د امکان تر حده ځای ور کول کیږي.

په درنښت

عبدالعلي رسولزاده
alirasulzada@hotmail.com

# د مضامینو جدول


| شمېره | مضمون | پاڼه |
|---|---|---|
| ۱ | عادل امر | ۱ |
| ۲ | عنبر | ۳ |
| ۳ | پوهنه | ۳ |
| ٤ | کتاب خرخوونکئ | ٦ |
| ٥ | وروستی لوست | ٦ |
| ٦ | د سحر وږمې | ۱۰ |
| ۷ | نوی ډاکتر | ۱۲ |
| ۸ | ژبه | ۱٤ |
| ۹ | پښتو | ۱٦ |
| ۱۰ | پښتو او هندي ژبي | ۱٦ |
| ۱۱ | پښتو د پراختیا په پوړیو کي | ۱۷ |
| ۱۲ | رسمي چاپېریال | ۱۸ |
| ۱۳ | پښتو د میرویس خان په دوره کي | ۱۸ |
| ۱٤ | پښتو د شاه حسین په زمانه کي | ۱۹ |
| ۱٥ | پښتو د احمد شاه بابا په زمانه کي | ۱۹ |
| ۱٦ | پښتو د امیر دوست محمد خان په زمانه کي | ۱۹ |
| ۱۷ | پښتو د امیر شیر علي خان په زمانه کي | ۲۰ |
| ۱۸ | پښتو د امیر عبدالرحمن خان په زمانه کي | ۲۰ |
| ۱۹ | پښتو د امیر حبیب الله خان په زمانه کي | ۲۰ |
| ۲۰ | پښتو د امان الله خان په زمانه کي | ۲۱ |
| ۲۱ | پښتو د نادر خان په زمانه کي | ۲۱ |
| ۲۲ | پښتو د ظاهر خان په زمانه کي | ۲۱ |
| ۲۳ | پښتو د روښانیانو په زمانه کي | ۲۲ |
| ۲٤ | پښتو د خوشحال خان په زمانه کي | ۲۳ |
| ۲٥ | د پښتو ژبي د لیک دود | ۲۳ |
| ۲٦ | خروشتي الفبې | ۲٤ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۷ | ادب | ۲۹ |
| ۲۸ | خاني لاړه | ۳۰ |
| ۲۹ | شعر | ۳۰ |
| ۳۰ | امير كروړ | ۳۱ |
| ۳۱ | خوشحال خان | ۳۲ |
| ۳۲ | رحمان بابا | ۳٤ |
| ۳۳ | نازو انا | ۳٦ |
| ۳٤ | لنډۍ | ۳۷ |
| ۳٥ | د عينو كاريز | ٤۱ |
| ۳٦ | كلتور | ٤۳ |
| ۳۷ | د ټولني پرمختګ او كلتور | ٤۳ |
| ۳۸ | اوده | ٤٥ |
| ۳۹ | دم | ٤٦ |
| ٤۰ | خورده | ٤٦ |
| ٤۱ | ټوټكه | ٤۷ |
| ٤۲ | كرښه | ٤۷ |
| ٤۳ | كركه | ٤۸ |
| ٤٤ | كتنه | ٤۸ |
| ٤٥ | دروښ | ٤۹ |
| ٤٦ | چوكۍ اخيستل | ٤۹ |
| ٤۷ | زانګو ځړول | ٥۰ |
| ٤۸ | كوډي | ٥۰ |
| ٤۹ | ښرا | ٥۱ |
| ٥۰ | روې | ٥۱ |
| ٥۱ | جرګه | ٥۲ |
| ٥۲ | موسيقي | ٥۳ |
| ٥۳ | علامه سيد جمال‌الدين افغان | ٥٤ |
| ٥٤ | ملاله | ٥٦ |
| ٥٥ | ځوانانو ته بلنه | ٥۸ |

| | | |
|---|---|---|
| ٥٦ | احمد شاه بابا او د هیواد مینه | ٦١ |
| ٥٧ | مکاره ګیدړه | ٦٣ |

بسم الله الرحمن الرحيم

# عادل آمر

د حضرت محمد (ص) تر وفات وروسته د ده يارانو هر يوه (حضرت ابوبکر صديق، حضرت عمر ، حضرت عثمان او حضرت علي) په نوبت سره خلافت کاوه . حضرت عمر فاروق (رض) چي د اسلام دوهم خليفه وو ، ډېر عادل سړی وو . هر کله به يې د خپلو رايتو (رعيتو) احوال اخيستئ او د دوی په خدمت کي به نه ستړئ کېدئ . د شپې د خوا به د مديني په ښار کي ګرزېدئ او کتل به يې چي د خلکو حال څه دئ .

يوه شپه حضرت عمر (رض) د يوه کور تر څنګ تېرېده . ګوري چي د کور په انګړ کي يوه ښځه ناسته ده او يوه کټو يې پر نغري باندي کړې ده . د کټوي شاوخوا ته يې څو تنه وړې ماشومان ناست دي ، ژاړي او د مور څخه د خوړلو څه غواړي . مور يې په خبرو دلاسا کوي او ورته وايي " مه ژاړئ اوس به کټو پخه سي او تاسي ته به خواړه در کړم ".

ماشومان به کله غلي سوه او کله به يې د لوږې له لاسه ژړل . مور به يې بيا ورته وويل : " بچيانو ارام سئ ، اوس خواړه پخيږي ". په پای کي کله چي ډېر ناوخته سو نو کوچنيان وږي بيده (ويده) سول .

حضرت عمر (رض) چي دا حال واورېد نو يې د ښځي څخه کور ته د ور ننوتلو اجازه و غوښتله . کله چي کور ته ور ننوت نو د ښځي څخه يې پوښتنه وکړه :
" ادې ولي دي وږو ماشومانو ته څه ور نه کړه "؟

هغې ورته وويل: " جار دې سم! په کټو کې هيڅ شی نه سته، يو څو هډوکي مې پکښې اچولي دي او ماشومان پرې غولوم. په کور کې اوړه خلاص سوي دي".

حضرت عمر (رض) چې دا خبرې واورېدې نو ژر ولاړ او بيت المال ته ور ننووت او څه اوړه يې د وړو کوچنيانو مور ته راوړه او ورته ويې ويل: "دادې اوړه مې در ته راوړل کوچنيانو ته دې ډوډۍ ور پخوه". د کوچنيانو مور ډېرې دعاوې ور ته وکړې.

**تمـــريـــن**

۱ـ حضرت عمر (رض) څوک وو؟ و يې ليکئ.
۲ـ خليفه يعني څه؟ شرحه يې کئ.
۳ـ د کوچنيانو مور ولې کوچنيان خطا ايستل؟
٤ـ حضرت عمر (رض) ولې د شپې په ښار او کوڅو کې ګرځېدئ؟
٥ـ حضرت عمر (رض) د وړو کوچنيانو سره څه مرسته وکړه؟

# عنبر

عنبر د یوه لوی ماهي (کب) نوم دئ چي په دریابو کي ژوند کوي. د دې کب سر غټ او تېره غاښونه لري. د بدن اوږدوالی يې تر لسو مترو پوري رسيږي. انسانان د دې ماهي د ګېډې څخه یو ډول خړه ماده راباسي. دا خړه ماده ډېر ښه بوی ور کوي چي خلک يې د عنبر په نامه بولي. د دې مادې څخه عطر جوړوي. د عنبر د ماهي د ګېډې څخه چي د عنبرو کوم ځاځکي راووزي نو وزن يې د نیم څخه تر لسو کیلو ګرامو پوري رسيږي او کله تر شلو کیلو ګرامو پوري رسيږي. دا ماده کله کله د اوبو پر سر را غونډيږي او خلک يې را ټوله کړي او کله بیا دغه ماهی و نیسي او د ګېډې څخه يې عنبر راوباسي. شاعر بیا د عنبرو په هکله داسي وايي:

د عنبرو بوی الوزي ستا په کوی کي
واړه ستا د زلفو بوی دی عنبر نشته

(پښتو قاموس)

# پـــوهـــنه

پوهنه هغه رڼا ده چي تل يې د بشري ګمراهیو د تیارو سره مقابله کړې ده او د نا پوهیو د تورتم ګوټونه يې په خپلو وړانګو روښانه کړي او د جهالت توري تیارې يې له منځه وړي دي.

په نړۍ کي چي څه انکشافات سوي دي او یا کیږي هغه ټوله د پوهني له برکته دي. دا چي ځیني هیوادونه پر مخ تللي دي او ځیني تر شا پاته دي دا هم د پوهی او ناپوهی اثرات دي، څکه نو ټول سماوي ادیان او د مځکي پوهان د علم او پوهني

د زده کړي توصیه کوي او انسانان د پوهني په رڼا کي د پوهي و خوا ته را بولي.

خدای تعالی په قران کریم کي فرمایلي دي چي:

ایا برابر دي هغه کسان چي علم لري د هغو کسانو سره چي علم نه لري؟

حضرت محمد (ص) فرمایلي دي:

د علم تحصیل د مسلمانانو د هر نر او هري ښځي فریضه ده.

بل ځای فرمایي:

له زانګو نه تر قبره پوري د علم په زده کړه کي کوښښ و کړئ.

بل حدیث دئ چي وایي:

علم زده کړئ که څه هم په چین کي وي.

یو پوه وایي:

لومړی شاګردي و کړه بیا معلم سه.

یو بل پوه وایي:

څوک چي پوهه نه لري ګویا ژوند نه لري.

یو بل پوه داسي وایي:

د علم د زده کړي په وخت کي باید فکر وکړو چي څه زده کوو او له دي زده کړي څخه څنګه استفاده کوو.

د پښتو ژبې پیاوړئ شاعر خوشال خان بیا د پوهې او علم په هکله داسې وایي:

علم تــا بــیایي پــه پورته      جــهل تـــا بیایي په کښته
یــا عیسی لـــره ور درومه      یـــا قارون ته ځان و سپاره
چـې یې عـلم فضل نه وي      که په تخت د پاچا کښیني
یــا یو ایــږ دئ یا لېوه دئ      یـــا یـې ګاو و خر و شماره
تــر دانــا دي زه جـــاربېږم      نـــادانـــان واړه تـــر مـــا
نادان ځـان لـــره بــلا دئ      هــم جـــهان لـــره بـــلا

د پښتو ژبې مشهور متل بیا وایي:
ناپوه دومره په بل نه کوي لکه په ځان.

**تمـــریـــن**

۱ ـ د علم یا پوهې په هکله څه معلمات چې لرئ و یې لیکئ.
۲ ـ د علم په هکله خدای (ج) څرنګه فرمایي؟
۳ ـ د دغې جملې (پوهنه هغه رڼا ده چې تل یې د بشري ګمراهیو د تیارو سره مقابله کړې ده) خپل نظر و لیکئ.
۴ ـ خوشحال خان په خپلو دغه دوو بیتو کې

تــر دانــا دي زه جـــاربېږم
نـــادانـــان واړه تـــر مـــا
نادان ځـان لـــره بــلا دئ
هــم جـــهان لـــره بـــلا
نا پوه ته څه وایي؟

# کتاب خرخوونکئ

یوه سړي د یوه کتاب خرخوونکي څخه پوښتنه و کړه چي :" په کتاب خرڅولو کي دي ګټه ده که تاوان"؟

کتاب خرخوونکي ور ته وویل : " تاوان . دا ځکه چي هغه څوک چي سواد لري پیسې نه لري او څوک چي پیسې لري سواد نه لري".

# وروستی لوست

دا یوه لنډه کیسه ده چي د یوه ویښ ملت یوه حساس هلک لیکلې ده او له اروپایي ژبو څخه ژباړل سوي ده او دا ښکاره کوي چي ویښ ملتونه څرنګه د خپلي مورنۍ ژبي سره مینه ښکاره کوي.

د پسرلي د ښه موسم یو ښکلئ سهار وو ، د ګهیځ نری شمال چلېده ، د دې ښکلي سهار په ننداره بوخت وم چي د ښوونځي وخت را څخه تېر سو.

زما لا خپل سبق ښه نه وو زده ، پر لاري تلم او دا مي ویل چي ښاغلئ ښوونکئ خو ضرور زما څخه سبق پوښتي او هرو مرو به را څخه خوا شینئ سي.

یو وار مي زړه و غوښتل چي بیخي ښوونځي ته ولاړ نه سم ، خورا ښه ورځ وه ، هري خوا ته ګلان غوړېدلي وه ، د چوغوکو چونګکی وو ، عسکرو خپل تعلیم کاوه ، کله کله د باجي ږغ هم اورېده کېده ، خو سره له دې ټولو ننداړو زه له ښوونځي نه پاته نه سوم.

زما پښې د ښوونځي خوا ته رهي ويې ، نه پوهېدم چې ولې ؟

پر يو سړک يې يوه تخته ځړولې ووه ، شاوخوا ډېر خلک پر را ټول وه نو ما د ځان سره وويل چې ضرور خو دلته يوه نوې خبره سته .

ما غوښته چې د دې ډلې خوا ته ولاړ سم ، و ګورم چې څه پېښه ده ؟ پدې وخت کې يوه سړي راته وويل : " اوس ښوونځي ته ځې ؟ دا وخت د تګ دئ "؟ پدې خبره زه ډېر شرمنده سوم ، ژر ښوونځي ته ولاړم . په ښوونځي کې خو تر سبق د مخه د هلکانو زوږ وي، مګر نن هيڅ نه سته . ټول هلکان پټه خوله دي ، چپه چوپتيا ده . هلکان ټول په کوټو کې ناست دي ، ښاغلئ ښوونکئ هم دننه دئ، زه هم کوټې ته ورغلم ، ښوونکي صاحب په خورا شفقت راته وويل : "راځه راځه کښېنه ، موږ ښېله تا په سبق پيل کاوه".

زه ژر پر خپل ځای کښېنوستم ، شاوخوا مې و کتل ، که ګورم چې زموږ د کلي مشران هم دلته ناست دي . زه ډېر حيران سوم ، نه پوهېدم چې څه پېښه ده .

پدې وخت کې زمووږ ښوونکي صاحب چې پر چوکۍ ناست وو راته وويل :

"هلکانو! نن تاسي ته وروستی درس در کوم ، د دښمن د خوا حکم راغلئ دئ چې تر دې وروسته به پدې ښوونځي کې زموږ په مورنۍ ژبه لوست نه وي او په پردۍ ژبه به لوست کيږي ځکه نو نن دغه ستاسي د ملي ژبي وروستی لوست دئ . سبا بل ښوونکئ درته راځي ، نو ګرانو هلکانو د نن سبق په غور واورئ".

ما چې د ښوونکي دا وينا واورېده سړې خولې را باندي راغلې ، و رېږدېدم . اوس نو د هغې تختې خبره ښه راته ښکاره سوه چې څه پر ليکل سوي وه .

نن زما د خپلي مورنۍ ژبي وروستی لوست دئ ، افسوس تر اوسه لا ما ليک نه دئ زده کړې .

اوف ، خدایه ، ما خپل وخت ځنګه ضایع کړ ، کشکي ما خپل سبقونه زده کولای. زه د فکر په سیند کي ډوب سوم ، هغه لوستونه چي پرون ما نه زده کول نن مي ډېر ارمان سوه. پټه خوله وم ، له ډېره غمه مي زړه ربړدېده.

ښوونکي صاحب وویل: "افسوس ، تاسي یو غیور ملت یاست مګر خپله مورنۍ ژبه به در څخه پاته وي.

هلکانو دا خبره په ښي غوږ واورئ چي زموږ مورنۍ ژبه تر ټولو ښه ژبه ده ، داسي خوږه ، داسي ښکلې ژبه پر دنیا نسته. تاسي نن محکوم یاست ، مګر خپله مورنۍ ژبه هېره نه کئ او د دې د ساتني څخه لاس وانه خلئ". پدې ډول ښوونکي صاحب کتاب خلاص کړ او په لوستلو یې پیل و کړ. موږ ټول په فکر کي ډوب وو او د خپلي مورنۍ ژبي لوست مو اورېده.

د لوست وخت تېر سو د لیک وخت راغئ ، موږ ډېر کاغذونه د خپلي خوږي مورنۍ ژبي په لیکنه تور کړه ، ټولو د دغي جملې مشق کاوه: زموږ ګران هیواد ، زموږ خوږه مورنۍ ژبه. په کوټه کي خورا سړه سنا وه ، د مچ بوڼ نه وو ، د ټولو یوه شونډه لاندي او بله پورته وچه وه ، پټه خوله وه.

هو، کله کله پر کاغذ د قلم کښهار اورېده کېده ، په کړکۍ کي یوه کوتره ناسته وه، ورو ورو یې غومبر کاوه ، ما چرت واهه ، له ځانه سره مي ویل چي ښایي سر له سبا به دغه خوارکۍ کوتره هم په پردۍ ژبه غومبر کوي ، اوف څومره بې وزلي ده.

ښوونکئ صاحب هم په چرت کي ډوب ناست وو ، له ډیري خواشینۍ یې کله کله سترګو اوښکي کولې....

لویانو خلکو هم نن په خورا خوښي سبق وایه ، ځکه چي دوی پوهېدل چي نن د دوی د مورنۍ ژبي وروستی لوست دئ.

پدې وخت کې ساعت دوولس بجې ووهلې ، د دښمن دعسکرو د تروم ږغ اورېده کېده، د ښوونکي صاحب مخ ژړ سو ، بدن يې رېږدېده ، په ډېر زحمت ولاړ سو او ويې ويل :

" ګرانو هلکانو زه زه زه ...."

د ده ستونئ ډک کېده ، له خولې څخه يې خبره نه وتله ، نو د تختې خوا ته رهي سو ، په رېږدېدلي لاس يې په پنډ خط دا جمله پر تخته و ليکله :

زموږ ملت دې ژوندی وي .

بيا يې نو موږ ته په لاس اشاره وکړه او و يې ويل : " هلکانو ولاړ سئ ، ټول خپلو کورو ته ولاړ سئ ، ښوونځی و تړل سو ".

موږ د باندې را و وتلو د ټولو تر سترګو اوښکې جاري وې ، آه! جار تر خپل هيواد، قربان تر خپلې مورنۍ ژبې ...

يو شاعر د خپلې ژبې په هکله داسې وايي :

پردۍ ژبه زده کول خو لوی کمال دئ
خپلـه ژبـه هېـرول بـې کمالي ده

**تمــريـــن :**

۱ ـ حضرت عمر (رض) څوک وو ؟ و يې ليکئ .
۲ ـ خليفه يعني څه ؟ شرحه يې کئ .
۳ ـ د کوچنيانو مور ولې کوچنيان خطا ايستل ؟
٤ ـ حضرت عمر (رض) ولې د شپې په ښار او کوڅو کې ګرځېدئ ؟
٥ ـ حضرت عمر (رض) د وړو کوچنيانو سره څه مرسته و کړه ؟

# د سحر وږمې

ګاره او سيند او يوه لويه ونه
چې شاهدان دي د اوږدو کلونو
او اوس د هر يوه له ښنګه سره
نښې ښکاريږي د زړو هډونو
د ګاري ښنګ ته او د سيند پر غاړه
پلونه پټ کړي د زمان ګردونو
نن هغه ګاره هغه سخته ګاره
ناري وهي چې د ادم زامنو
راسئ دا زما پر اوږو و درېږئ
و وينئ ليري ازلي وختونه
خو زما په سيوري کې به نه پټېږئ
دلته به نه لټوئ پټ ځايونه
خالق پيدا کړاست د ملکو په خير
خو تاسي عمر په تيارو کې تېر کړ
د ورور په وينو مو لاسونه سره کړه
ژوند مو د جهل په شپلو کې تېر کړ
دلته به نه پټوې تور مخونه
ما ته به نه راوړئ خيرن لاسونه
د دې جهان په يوه ليري کونج کې
د شنو او صافو اوبو سيند بهيږي
سيند د زمان ښکلې سندره بولي
غواړي انسان يې ښنګ ته و اوسيږي
سندره وايي خو په وينو ژاړي
په خپلو ښنډو کې قتلونه ويني
پر خپلو شنو پر خپلو صافو اوبو

د انسانانو مات هډونه ویني
سیند وایي مه سوځئ وداني خوني
زما پر ښایسته غاړه کورونه جوړ کئ
زما پسته غېږه ستاسي ټولو مال دئ
دلته کې و اوسئ ملکونه جوړ کئ
زه به هر وخت په خپل خواږه اواز کي
درته سندري د زمان بولمه
په خواږه ږغ کي چي خالق راکړئ
کیسې د میني او انسان کومه
زه به د هغه وخت سندري بولم
چي لا په وینو نه وه سره لاسونه
د انسانانو پر تندیو باندي
نه وه د قتل خونړي داغونه
د سیند پر غاړه یوې لویې وني
په مینه و زنګول شنه ښاخونه
ویل یې هېر کې د ادم زامنو
ژبه مذهب او دا دپوست رنګونه
راسئ راټول سئ زما تر سیوري لاندي
ستاسي دي ګاري سیند او شنه برګونه
یو ځلي سترګي کئ په مینه روښي
دغه ښایسته سهار ته و مسېږئ
یو ځلي هیري کئ زړي دښمنۍ
د یوه بل په غېږ کي و زنګېږئ
یو ځل د خویندو او د ورونو په څېر
په مینه وګورئ او و خندېږئ
ګاري او وني او سیندونه خپل کئ
دا ساړه سیوري شنه ښاخونه خپل کئ

(جهاني)

**تمـــریـــن**

۱ ـ د پورتني شعر مفهوم په خپله ژبه و لیکئ.
۲ـ د پورتني شعر په هکله څه نظر لرئ؟
۳ ـ پورتنی شعر موږ ته څه را زده کوي؟

# نوئ ډاکتر

یوه نوي ډاکتر یوه نوې معاینه خانه خلاصه کړې وه نو زیار یې ایستئ چي ناروغ لرونکي ځان ته را جلب کړي. یوه ورځ یې د لیري یو سړی پر سړک و لید چي د ده د معاینه خانې و خوا دته را رهي دئ. ډاکتر په زړه کي خوشاله سو. کله چي هغه سړی د معاینه خانې و دروازې ته راورسېد ډاکتر د تلیفون غوږۍ پورته کړه. د دې د پاره چي ځان سرې ته مصروف و ښیي نو داسي یې په خبرو پیل و کړ:

هو بله نسخه مي هم لیکلې ده. بلې، ډېر ښه. انشا الله هغه بل ناروغه چي له هغه مرضه زما په دوا جوړ سو نو دغه به هم ضرور جوړ سي. څه فرق کوي؟ دا زما وظیفه ده، زما د لاس برکت. یه یه ـ دا د علم برکت دئ، البته تشخیص درست وو.

بلې، یه! نن نسم درتلای، ډېر ناروغان زما په انتِظار کي دي. اوس باید د ریس صاحب کره ولاړ سم، هغه هم تاسي غوندي سخت ناَروغه لري. ستاسي نسخه تیاره ده، د ټوخي دوا هم در لېږم.

سبا؟ هو! درځم. خو نن ایله چي تر دوولسو بجو د شپې د خپلو ناروغانو له لیدو څخه وزګار سم، سبا سهار وختي یو دوه نور عاجل ناروغان لرم چي هغه مي و کتل نو بیا به ستاسي کره درسم.

هو! هو! دستي سړی را و لېږه چي هغه نسخه دروړي چي څو دقيقې وروسته نو زه ځم.

ډاکتر د تليفون غوږی کښېښوده او راغلئ سړي ته يې مخ ور واړاوه او ورته و يې ويل:" وروره! تاسي هم کوم ناروغه لرئ"؟

سړي ورته وويل:" يه ډاکتر صاحب زه ناروغ نه لرم. زه تليفوني يم، راغلئ يم چي ستاسي د تليفون لين در و ترم".

**تمـــريـــن:**

١ـ د نوي ډاکتر د کيسې په لوستلو سره ستاسي په فکر کي څه در ګرځي.
٢ـ د نوي ډاکتر کيسه يوه افغاني کيسه ده. ايا تاسي فکر کولای سئ چي يو اروپايي ډاکتر به هم دغسي کار و کړي؟
٣ـ که ته د نوي ډاکتر د ناروغه پر ځای وای تا به څه فکر کړئ وای؟

# ژبـــه

ژبه د ژونديو موجوداتو تر منځ خبر (اطلاع) ور کول دي. د شاتو مچۍ د شاتو د منبع پر سر د ګرځېدو په واسطه نورو موچيو ته خبر ور کوي چي شات دلته دي. مېږيان دخپلو دوو انتنونو او د بوی د ژبي په واسطه نورو ته خبر ورکوي ،ښځينه بوراګاني په هوا کښي د نرينه بوراګانو توجه ځانته ته د يو ډول بوی په واسطه را جلبوي. مرغان د خپلو سندرو (ربز) په واسطه د ډلي نورو مرغانو ته د يوه نوي ځای د نيولو خبر ور کوي. حيوانات هم د انسانانو په شان د خطر ، بيري (ويري) او تېښتي خبر نورو ملګرو ته د اواز او يا کوم بل سلوک د ښکاره کولو له لاري ور کوي. د انسانانو د خبرو ژبه انسان ته دغه امکان ور بخښي چي د يو شمېر محدودواو ساده ږغونو له لاري يو زيات شمېر غير محدود نوي او مغلق اطلاعات جوړ کړي. ټولي انساني ژبي يو شمېر محدود ژبني ږغونه(*fonem*) لري ، کوم چي د هري ژبي د الفبې د تورو څخه عبارت دي. فونيمونه په خپله معنا نه لري، مګر که يو يا څو فونيمه سره يو ځای کړو نو مانا لرونکي واحدونه (*morfem*) او يا په بل عبارت ساده کلمې ځني جوړيږي. که يو شمېر دغه کلمې د معينو ګرامري قاعدو له مخي سره يو ځای سي نو بيا جملې ور څخه جوړيږي ، چي جملې نو بيا د انسانانو د ژبي هغه واقعي اطلاعات دي.

د ژبو تر منځ د فونيمونه ځای پر ځای کېدل يو د بله توپير لري. ټولي ژبي اواز لرونکي توري (*vokaler*) او بې اوازه توري (*konsonanter*) لري.

په نړۍ کښي د ۶۰۰۰ په شا و خوا کي مختلفي ژبي وجود لري چي يو د بله څخه توپير لري. د مثال په توګه پښتو او دري دوې مختلفي ژبي دي او په افغانستان کي له ډېره وخته سره ملګري دي.

لرغون پوهانو یو شمېر لیکني پیدا کړي دي چې د پښتو او دري ژبو په هکله یې معلومات ور کړئ دئ. د بغلان د کتیبې (لیکني) څخه (١٦٠ م) ښکاره کیږي چې په تخارستان کې د کوشانیانو د وخت ژبه یو ډول زړه دري وه، چې د اوازونو، کلمو او ګرامر له مخې یې د پښتو سره زیات ګډون درلود چې هغه ژبه موږ کولای سو دري و بولو، دا چې د دوهمي هجري پېړۍ څخه د پښتو ژبې پخواني اثار هم موجود دي نو کولای سو چې و وایو پښتو او دري دوې سره ملګري او نیژدې ژبې دي.

په نړۍ کښې ډیري ژبې موجودي دي چې یو دبله لږ یا ډېر توپیر لري. همدا ډول په هره ژبه کې بیا مختلفي لهجې (*dialekter*) وجود لري. د لهجو دغه اختلاف په ځینو ژبو کې لږ او په ځینو ژبو کې ډېر وي. د مثال په توګه په سویډني ژبه کې د جنوبي منطقې لهجه (*Skånska*) د ستوکهولم او یا نورو منطقو د لهجو سره فرق لري. په پښتو ژبه کې هم مختلفي لهجې سته چې هغه یو د بله څخه ډېر زیات توپیر لري.

**تمـــریـــن**

١ـ ژبه څه شی ده؟
٢ـ فونیم او مورفیم څه شی دي؟ د دوی تر منځ فرق څه شی دئ؟
٣ـ د بغلان کتیبه (لیکنه) د څه شي په باره کې معلومات را کوي؟
٤ـ د پښتو پخواني اثار چې زموږ په لاس کې دي څومره زاړه دي؟

# پښتـــو

پښتو د هغو پنځوسو معتبرو ژبو په کتار کي راځي کوم چي بډای ادبيات لري. پښتو د افغانستان ملي ژبه ده. په افغانستان کي نژدې ۱۲ مليونه وګړي خبري په کوي (د ۱۳۵۳ کال د احصايې له مخي). او په پښتونستان کي نژدې اوه مليونه وګړي خبري پرې کوي. سربېره پر دې دوو سيمو يو شمېر پښتانه په پاکستان، هند، کشمير، يو لږ شمېر د چين په (سين کيان) او له پنځو سوو زرو نه زيات پښتانه د ايران په خاوره کي ژوند کوي. د چين د پښتنو د موجوده ژبي په باب معلومات نشته.

د پښتو څېړني او زده کړي ته د وروستيو درو پېړيو په جريان کي د لوېديځو څېړونکو زياته پاملرنه اوښتي ده. په بريتانيا، روسيه، فرانسه، جرمني او نورو هيوادو کښي ډېرو پوهانو پښتو زده کړې او څېړلې ده. ډېرو لوېديزو پوهانو ډول ډول پښتو کتابونه ليکلي دي.

د ۱۹۳۹ کال نه وروسته د ماسکو د ختيځ پېژندني په انستيتوت او يو شمېر نورو لوړو پوهنځيو کي د پښتو تدريس په منظم ډول شروع شو چي د تدريس انتظام او د موادو برابرول يې د استاد اسلانوف د زيار او زحمت محصول وو.

## پښتو او هندي ژبي:

پدې کي شک نشته چي پښتو د لوېديزو اريايي ژبو په کورنۍ پوري اړه لري او په هغو کي د باختري ژبو په جمله کي يوه ژوندۍ ژبه ده. خو بيا هم د نورو باختري ژبو په نسبت د هندي ژبو سره خصوصا په لغوي پانګه کي د پاملرني وړ ګډون لري.

د دې یو علت د هندي ژبو سره د پښتو د زرګونو کلو ګاونډیتوب او د ګډو پولو لرل دي. دوهم علت یې پر هند باندي د پښتنو د څو پېړیو حکومتونه دي چي د هغه په اثر پښتو ډېر څه هندي ژبو ته ورکړي او ډېر څه یې ور نه اخیستي دي. د دې کار په نتیجه کي هندي ژبي د پښتو څخه او پښتو د هندي ژبو څخه متاثري ښکاري. د پښتو اوهندي ژبو تر منځ بل ګډ خصوصیت د (ټ، ډ، ړ او ڼ) د ږغونو موجودیت دئ. څېړونکي عقیده لري چي آریایي ژبو دغه ږغونه نه لرل، پښتو مستقیما په خپله یا د هندي ژبو له لاري دغه ږغونه له دراویدي ژبو څخه اخیستي دي. ځکه هندي ژبو هم دغه ږغونه په خپل اصل کي نه درلودل او هغه یې د مغلوبو او شړل شوو دراویدي ژبو څخه اخیستي دي. له دغه ځایه وو چي یو شمېر محقیقینو عقیده درلوده چي پښتو د هندي ژبو له کورنۍ څخه ده.

په ۱۸۲۸م کال کي د لومړي ځل د پاره (کلاپروت) او له هغه څخه وروسته یو شمېر نورو دغه نظریه منځ ته راوړه چي پښتو یوه آریایي ژبه ده، نه اینډو آریایي ژبه.

## پښتو د پراختیا په پوړیو کي:

پښتونخوا ته د عربو د نفوذ نه وروسته د عربي او عربي ادبیاتو له خوا ورو ورو د پښتو ادبیاتو ساحه ور تنګه شوه. د پښتو ادبیات یوازي د فولکلور په ډول د عامو پښتنو په سیمو کښي ساتل کېدل چي د یوه څخه بل ته په شفاهي ډول نقل کېدل. پدې ډول پښتو د پردیو ژبو د یرغلو څخه خوندي وه. د دغه وخت د خوږو اشعارو څخه زموږ په لاس کښي یوازي د امیر کروړ یو حماسي شعر (د دوهمي پېړۍ پیل) او ځیني نور، ډېر لږ اثار دي.

د سوریانو او غوریانو په وخت کښي د السرواني، اسعد سوري، ښکارندوی، تایمني او د پښتو د نورو پیاوړو شاعرانو د روزني او پالني زانګو د شاهانو دربارونه وه. پدغه دربارونو کي پرته له پښتو نه په بله ژبه خلک نه پوهېدل. د دوی ژبه سوچه پښتو وه او د دوی د منطقي ژبه د فارسي او عربي ژبو د نفوذ څخه ساتل شوي وه.

پښتنو شاهانو په هند کښي نه يوازي د هند ابادۍ او مدنيت ته خدمت کړۍ بلکي په خپلو دربارونو کښي يې پښتو هم پاللې ده.

هجري لسمه او يوولسمه پېړۍ د پښتو د روزني او د پښتو ادبياتو د پرمختګ طلايي پېړۍ ګڼل کيږي. پدغه وخت کښي موږ د پښتو له پاره دوه چاپېريالونه ټاکلاى شو:

۱ ـ رسمي چاپېريال

په رسمي چاپېريال کي د ستر مشر ميرويس نيکه له وخته د پښتنو سياسي او ادبي مرکز کندهار او بيا کابل ګرځي.

۲ ـ ولسي يا غير رسمي چاپېريال

چي د روښانيانو د تحريک سره سم شروع کيږي.

دلته به پر لومړي چاپېريال لږ څه رڼا واچول شي

پښتو د حاجي ميرويس خان په زمانه کي:



د ميرويس نيکه درني کورنۍ نه يوازي د پښتو پالنه کړې، بلکي د پښتو ژبې ښه شاعران هم وه. د ده په دوره کي د پښتو ښه شاعران و روزل شوه لکه سيدال خان ناصري، ملا پير محمد، بابو جان بابي، داود هوتک، ملا نور محمد غلجي او نور.

## پښتو د شاه حسین په زمانه کې:



بیا د ده د زوی شاه حسین په زمانه کښې چې د پښتو د خدمت په باب د تاریخ یوه ځلانده دوره ده. د ده دربار د پښتو ژبې د ادب ښه زانګو ګڼل کیږي. د ده په امر د پښتو ژبې د شاعرانو تذکره (پټه خزانه) و لیکل شوه چې د پښتو د ادب تاریخ یې ۱۳ سوه کاله مخکښې زمانو ته و رساوه.

## پښتو د احمد شاه بابا په زمانه کې:



پښتو ژبه په ادبي لحاظ د احمد شاه بابا (چې د پښتو ژبې شاعر هم وو) او د ده د اولادې، تیمور شاه او شاه زمان په وختو کې پالل شوې، مګر په حقیقت کښې د تیمور شاه له خوا له کندهاره د سیاسي مرکزیت لیږدول و کابل ته د پښتو د پرمختګ له پاره لویه صدمه وه چې جبیره کول یې ګران شول.

## پښتو د امیر دوست محمد خان په زمانه کې:



د امیر دوست محمد خان په کورنۍ کې د پښتو ژبې کلکه مینه پرته وه، د همدې مینې په اثر د ده ورونه سردار مهردل خان او سردار پردل خان د پښتو ژبې خوږ ژبې شاعران وه.

## پښتو د امیر شیر علي خان په زمانه کي:



د اعلیحضرت امیر شیرعلي خان په وخت کښي پښتو ژبي ته په رسمي ډول خدمت شروع شو. ټول عسکري، ملکي او د کابینې د غړیو القاب یې په پښتو واړول. د هغه وخت ځیني عسکري قوماندي چي په پښتو شوي وې لا تر اوسه ژوندئ دي لکه (تیار سئ، ولاړ سئ، دربړ) او نور.

## پښتو د امیر عبدالرحمن خان په زمانه کي:



اعلیحضرت امیر عبدالرحمن خان د پښتو سره بې مینې نه وو. د ده په امر د عبدالقادر ختک اثر (یوسف او زلیخا) په سلطنتي مطبعه کښي چاپ شو.

## پښتو د امیر حبیب الله خان په زمانه کي:



د اعلیحضرت حبیب الله خان په وخت کښي د پښتو په باب یو لوی ګام واخیستل شو او هغه دا چي پښتو ژبې د معارف په تعلیمي نصاب کښي ځای و نیوئ او د ښوونځي په درسي پروګرام کي رسمي داخله شوه. مولوي صالح محمد لومړی درسي کتاب و لیکئ چي بیا په لاهور کښي هم چاپ شو. په سراج الاخبار کښي د پښتو مضمونونو چاپول شروع شوه.

## پښتو د پاچا امان‌الله خان په زمانه کې:



د اعلیحضرت امان‌الله خان پښتو ته خاصه توجه وه. د پښتو د زده کړې او تعمیم په غرض (پښتو مرکه) نومې ټولنه جوړه کړه، چې د هیواد د ټولو قومونو فاضلانو او عالمانو ګډون پکښې کړئ وو. پدغه وخت کې د پښتو د پاره ګرامري قواعد ولیکل شوه، لغوي پانګه او د اصطلاحاتو ذخیره یې را ټوله کړه شوه، نوي نومونه او اصطلاحات هم جوړ شوه. د پښتو کتابونه (پوازنۍ پښتو)، (پښتو پښویه) ولیکل او چاپ شول. طلوع افغان ورځپاڼې چې په دري ژبه یې مضمونونو خپرېدل په پښتو ژبه هم د مضمونونو په خپرولو پیل و کړ چې ورو ورو ټوله پښتو شوه.

## پښتو د اعلیحضرت نادر خان په زمانه کې:



د اعلیحضرت نادر شاه په وخت کې پښتو مرکه په (پښتو انجمن) واوښته او بیا مرکز ته را نقل او د (کابل د ادبي انجمن) په ګډون په (پښتو ټولنه) واوښت. پدغه وخت کې د پښتو د پراختیا د پاره کار پیل شو.

## پښتو د اعلیحضرت محمد ظاهر خان په زمانه کې:



د اعلیحضرت محمد ظاهر خان په زمانه کې کله چې سردار محمد داود صدراعظم سو نو پښتو ژبې ته یې زیاته توجه وکړه. هغه دا چې د دولت ټول کار کوونکو ته یې په اجباري ډول د پښتو ژبې د زده کړې امکانات برابر کړه که څه هم ژبه به پښتو وه او د ژبې د کورسونو تر لوستلو وروسته په ازموینه کې تر بریالي کېدو وروسته یې میاشتنی معاش د پنځوسو افغانیو په اندازه ور زیاتاوه.

**تمـــريـــن**

١ ـ په پښتو ژبه په کومو هيوادو کي خبري کيږي ؟
٢ ـ پدي وروستيو دري پيړيو کي پښتو ته د کومو لويديزو څيړونکو زياته پاملرنه اوښتي ده ؟
٣ ـ د پښتو او هندي ژبو تر منځ څه اړيکي سته و يي ليکئ.
٤ ـ د پښتو ژبي د پراختيا په برخه لاندي پاچاهانو څه کړي دي ؟

- شاه حسين
- احمد شاه بابا
- امير دوست محمد خان
- امير شېرعلي خان
- پاچا امان‌الله خان

## ٢ ـ اولسي يا غير رسمي چاپېريال :

په اولسي چاپېريال کښي د پښتو د پالني او ادب د پرمختګ شروع د روښانيانو په ديني رنګ کښي د ملي او سياسي حرکت سره يو ځای شروع کيږي.

## پښتو د روښانيانو په زمانه :

د پښتو ژبي په لمن کښي د پير روښان تاليف (خيرالبيان) لومړی بشپړ کتاب دئ چي په ٩٧٠ هجري کال کښي ليکل شوئ دئ او بيا په ١٠٦٠ هجري کال کښي نقل شوئ دئ. تر دي کتاب دمخه پرته د شيخ ملي له کتابه چي هغه هم ورک دئ او د (سليمان ماکو) د تذکرة الاوليا چي يوازي يو څو پاڼي يي موندل شوي دي ، د کوم بل کتاب څرک نه لرو.

## پښتو د خوشحال خان په زمانه کي:



د پښتو د ادب روښانه دوره د خوشحال خان ختک د منځ ته راتلو سره سمه شروع شوه. د خوشحال خان د قلم په زور پښتو نه يوازي د ننني ادبي ژبو سياله شوه بلکي د پښتنو د مليت د ژوندي کولو ساه يې بايد و بولو. خوشال خان د لومړي ځل د پاره په پښتو کښي ادب، سياست (دستار نامه)، طب (طبنامه) او نور علوم ځاى کړل چي دا کار نه مخکي چا کړئ او نه وروسته. د ده دغه کار د ده د کورنۍ د نورو غړو له خوا بشپړ شو.

د خوشال خان په وخت کښي او له هغه وروسته په پښتو کښي غښتلي او نازک خياله شاعران منځ ته راغلل لکه رحمان بابا، حميد ماشو خېل، حسين، مصري خان او نور چي د نولسمي پېړۍ تر پيل پوري يې دوام وکړ او په پښتو کښي يې اخلاق، تصوف او بشردوستي ځاى کړل.

د نولسمي پېړۍ په پيل کښي خارجي استعمار چيانو، لومړى سيکانو او بيا انګرېزانو د دوراني دولت د مشرانو د اولادې له اختلافه استفاده وکړه او د پښتنو خاوره يې پر دوو درو برخو و وېشله چي تر اوسه پوري لا پر هغه حال پاته ده. د استعمار په مقابل کښي د ليري پښتونخوا پښتنو په يوه لاس کښي توره او په بل لاس کښي قلم واخيستل چي په دواړو مبارزه ترننه روانه ده.

## د پښتو د ليک دود تاريخچه:

د پښتو د ننۍ الفبې توري د عربي ژبي په اساس جوړ شوي دي چي سبب يې د اسلام د راتګ سره سم د عربي ژبي نفوذ دئ.

تر اسلام د مخه د اوسني افغانستان او هغه ته په ورخېرمه سيمو کښي دوه ډوله الفبې عموميت درلود:

# الف ـ خروشتي الفبې

## ب ـ یوناني (ارامي الفبې د پښتو د پاره دومره اهمیت نه لري)

د معاصر افغانستان او هغه ته په ور ځېرمه (خصوصاً لوېدیځو) بیلو بیلو سیمو کښې د موندل شوو کتیبو (لیکنو) او سکو له مخې څخه د تاریخ پوهان وایي چې د دغو سیمو د بیلو بیلو ژبو له پاره خروشتي الفبې رواج وه. خروشتي د یو ډول پخوانۍ الفبې نوم دئ نه د یوې ژبې. دلته لاندې د خروشتي الفبې نمونه و ګورئ:

پر سکو باندې د خروشتي الفبې نمونې:



د خروشتي الفبې نمونه:






## خروشتي الفبې د حيوان پر پوستکي باندي:



د خروشتي الفبې په هکله انګرېزی څېړونکئ (سر ويليام جونز) وايي چي خروشتي ليک ژبه د آريانا ژبه وه او که چيري په پښتو کښي پوره څېړني وشي نو ښايي چي يو وخت د دغي ژبي (پښتو) په مرسته ډېري خروشتي کتيبې (ليکني) و لوستلي شي. د کتيبو له تاريخي څېړني څخه څرګنديږي چي خروشتي الفبې له دريمي تر ميلاد د مخه پېړۍ څخه بيا تر پنځمي ميلادي پېړۍ پوري په دغو سيمو کښي موجوده وه.

ـ د خروشتي الفبې رواج د کنيشکا او د هغه د وروسته راتلونکوکسانو له خوا په کراره کراره دمنځه ولاړ او ځای يې يوناني الفبې و نيوئ.

ـ د مقدوني سکندر له راتګ نه وروسته د يونانيانو د نفوذ د ټينګېدلو په اثر يوناني الفبې ورو ورو عموميت و موند. د يو لړ کتيبو او سيکو څخه داسي معلوميږي چي يوناني الفبې پدې سيمه کښي د ميلادي اوومي پېړۍ تر لومړۍ نيمايي پوري عامه وه.

ـ کله چي اسلام افغانستان ته راغئ نو په لومړيو وختو کښي د يوناني الفبې له مخي د پښتو د خاصو تورو جوړول د عربي الفبې په اساس د مثال په توګه د (ځ) له پاره د عربي الفبې په اساس د (خ) توری په همدغه شکل جوړ شوئ دئ.

ـ د پښتو اوسنی ليک د عربي الفبې په اساس جوړ شوئ دئ. د عربي الفبې په چوکاټ کښي د پښتو د خاصو ږغونو د پاره توري غالباً ډېر پخوا جوړ شوي دي ځکه چي پښتو ژبه وه او ليک به يې هم وو. پدي هکله ځيني داسي روايتونه شته چي دا توري په څلورمه هجري پېړۍ کښي جوړ شوي دي.

ـ قاضي خيرالله پدې هکله په خپل کتاب خيراللغات کښي داسي ليکلي دي چي :
"د سلطان محمود په زمانه کښي د ده د يوه وزير حسن ميمندي (ګومان کيږي چي دا کلمه ميوندي ده چي نسبت يې ميوند ته کيږي) په خاصه اشاره قاضي صيف الله د پښتو د خاصو تورو لپاره توري جوړ کړل چي هغه (څ ، ځ ، ډ ، ړ ، نړ ، ږ ، ښ ، ګ) دي او دغه ترتيب خاص رواج و موند".

ـ قاضي خير الله د (ټ) په هکله ليکي چي پښتنو سوداګرو بيا وروسته په سيند او پنجاب کښي د مروجي (ت) پر سر باندي د (ط) د توري په ليکلو سره د (ټ) توری واړاوه.

د پښتو د خاصو تورو د منځ ته راتلو په هکله ډېر روايتونه شته. څوک وايي چي دا توري ډېر پخوا جوړ شوي دي، خو د هغو د جوړولو نسبت کله پير روښان ته، کله اخوند درويزه ته او کله خوشحال خان ته کيږي. ښايي د دې علت به دا وو چي دوی ته به پخوانی ليک نه وو رسېدلئ يا به يې په هغه قناعت نه درلود. ځکه نو د دوی په اثارو کښي دغه ليک دود يا بيخي اوښتئ او يا لږ څه بدلونونه پکښي معلوميږي. د عربي الفبې په اساس د پښتو لومړی اثر د سليمان ماکو تذکره الاوليا دئ چي په (٦١٢ هـ ق) کښي يې د کندهار په ارغستان کي ليکلئ دئ او يوازي اته مخه ورنه پاتي دي. د دغه تذکرې ليک دود د اوسني ليک دود سره ډېر توپير نه لري. يوازي (ځ) داسي ليکل شوې ده چي تر (ج) لاندي يې يو ټکئ ليکلئ دئ او د (ی) د ډولونو تر منځ ورکښي توپير نه ليدل کيږي.

له دې ځايه څرګنديږي چي دغه تذکره د پښتو په يوه بشپړ او پر مخ تللي ليک دود ليکل شوې وه او امکان لري د قاضي صيف الله ليک دود به يې ليکونکي ته رسېدلئ وي.

ـ داسي شواهد هم موجود دي چي د پښتو د خاصو تورو جوړول پير روښان ته منسوبوي. د پير روښان کتاب (خيرالبيان) د پښتو لومړی بشپړ کتاب دئ چي په (۹۷۰ هـ ق) کښي يې ليکلئ دئ او په (۱۰۶۱ هـ ق) کي د دوهم ځل د پاره د ده تر مرګ ۱۳۰ کاله وروسته د بهارتوی په قلم ليکل شوئ دئ.

د دې کتاب له ليکني نه څرګنديږي چي د پښتو خاص توري د پير روښان له خوا جوړ شوي او يا يې پوره انکشاف ورکړئ دئ.

په دې کتاب کښي د (ځ ، ږ ، ژ) توري د اوسنيو تورو سره سمون نه لري. د (ځ) توری يې تر (د) لاندي يو ټکئ ، (ږ) يې د (د) په مينځ کښي ټکئ او (ژ) يې د اوسنۍ (ږ) په بڼه ليکلي دي.

ـ د پښتو ټولني په کتابخانه کښي د خوشحال خان د اشعارو قلمي نسخې موجودي دي. په دغو کتابونو کښي هم د پښتو د خاصو تورو د پاره څه قاعدې موجودي دي. د خوشال خان په ليک دود کښي چي کوم نوئ شی ليدل کيږي هغه د ثقيلي (ۍ ، ئ) موجوديت دئ چي کله يې (ئ) او کله يې (هـ+ ي) ليکلې ده.

ـ د سليمان ماکو په تذکره الاوليا کښي د (ځ) توړئ د (ج) په شان ليکل کېدئ چي يو ټکئ به يې تر لاندي ليکلئ وو او د امير عبدالحمن خان په وخت کښي (ځ) د (څ) په شان ليکل کېده چي دغه (څ) د دواړو ږغونو د پاره په کار وړل کيدله.

ـ د امير حبيب الله خان په وخت کښي چي د پښتو تدريس د حبيبيې ښوونځي په تعليمي نصاب کښي داخل شو د مولوي صالح محمد له خوا ورته د پښتو لومړی کتاب و ليکل شو ، په هغه کتاب کښي يې د (ځ) د پاره داسي توری جوړ کړ چي د (چ ، خ) په شان يې يو ټکئ پاس او يو ټکئ لاندي ليکئ.

لنډه يي دا چي د پښتو خاصو تورو ډيري لوړي او ژوري ليدلي دي. خو د پښتو ژبي دغه اوسني خاص توري، کله چي د پښتو ادبي مجلس (پښتو ټولنه) په (۱۳۱۱ هجري شمسي کال کښي منځ ته راغئ، ثقيله (ی) يې په (ئ) ومنله.

د تانيث (ښځينه) اسمونو (ى) بيا وروسته منځ ته راغله او د (ځ) د پاره يې هم دغه شکل و مانه. د پښتو ادبي انجمن د پښتو د اوسني او بشپړ ليک دود بنسټ کښېښود چي بيا وروسته د پښتو ټولني د غوښتني په اساس د (۱۳۲۱ هـ، ش) کال په لومړی فيصله کښي يوازي د افغانستان د ليکوالو له خوا او بيا د (۱۳۳۷ هـ، ش) کال په دوهمه فيصله کښي تر لږو ترميمونو وروسته د ټولي پښتونخوا د ليکوالانو له خوا و منل شو.

**تمـــريـــن**

۱ ـ د خوشحال خان په زمانه کي پښتو کومه پراختيا وکړه؟
۲ ـ د پښتو تر اوسنى الفبي د مخه پښتو په کومه الفبي ليکل کېده؟
۳ ـ د پښتو ژبي اوسنى الفبي څرنګه منځ ته را غله؟
٤ ـ د پښتو خاص توري څرنګه منځ ته را غله؟
٥ ـ د سليمان ماکو کتاب په څه نوم يادېده، څه وخت ليکل سوئ دئ او اوس چيري دئ؟
٦ ـ پښتو د کوم پاچا په وخت کي د ښوونځي په تدريس کي ځاى پيدا کړ او لومړی تدريسي کتاب يي چا و ليکئ؟

# ادب

په ورځنۍ اصطلاح کي ادب ښېګڼي ته ویل کیږي ، یعني چي څوک د ښه سلوک خاوند وي خلک ورته د ادب څښتن وایي.

ډیرو پوهانو د ادب تعریفونه کړي دي. دلته به موږ دغه یو تعریف غوره کړو:

ادب هغه هنر دئ کوم چي د هغه په واسطه سړی و کولای سي خپلي خبري او لیکني په ښه او ښکلي ډول و کړي او هم د دي هنر په واسطه د خوندوري وینا یا خوندوري لیکني توپیر د بې خوندي وینا یا بې خوندي لیکني څخه وکړي.
ادبي وینا یا لیکنه به یا نثر وي یا نظم (شعر).

## ۱ ـ نـــثر:

زموږ ورځنۍ خبري نثر دي مګر ادبي نثر نه دي. ادبي نثر هغه نثر دئ چي کلمې یې د مرغلرو د امېل (هار) په شان سره پېیل سوي وي او پر اورېدونکو یا لوستونکو ډېره اغېزه وکړي او د هغه د اورېدو یا لوستلو څخه ډېر خوند واخلي. د نمونې په توګه به د ګل پاچا الفت یو نثر و لولئ:

# خاني لاړه

په موټر کي سپاره وو ، يو خانزاده غوندي سړی هم په موټر ګي ناست وو ، د تېر وخت کيسې يې کولې.

هغه ويل : " پخوا موټرونه نه وه ، موږ به پر اسونو سپاره وو ، نوکرانو به مو مخ کي منډې وهلې. هغه وخت خان او غريب معلوم وو ، خانزاده او د آب سړي پېژندل کېده ، عام او خاص يو رنګه نه وه. اوس هر سړی په موټر کي سپريږي او نوکر د بادار څنګ ته ناست وي. چي موټرونه راغله او غريبان پکښي سپاره شوه ، خاني لاړه او باداري بې رونقه شوه ، د خان کيسه ډېره اوږده وه خو د مطلب ټکئ دا وو چي خاني لاړه ځکه چي خواران او غريبان په موټرو کي سپاره شوه."

## ۲ ـ شــــــعر :

هغه موزون کلام دئ چي د انسان پر احساساتو باندي تاثير کوي. ځيني بيا وايي چي : هر هغه کلام چي د انسان احساسات را وپارولاي سي هغه شعر دئ که څه هم وزن او قافيه و نه لري.

په پښتو ژبه کي ډېر شاعران تېر سوي دي خو متاسفانه چي د يو شمېر شاعرانو ديوانونه (د شعر کتابونه) هيڅ نه سته او نه موږ د دوی د ژوندانه د پوره حاله خبر لرو ، خو يوازي يې يو څو شعرونه موږ ته په لاس راغلي دي.

شعر ډېر ډولونه لري لکه عشقي ، تصوفي ، يا حماسي (جنګي) او نور.

په پښتو کي دواړو نرينه او ښځينه شاعرانو شعرونه ويلي دي. ځيني شعرونه د ډيرو تشبهاتو او استعارو څخه ډک وي. مګر يو شمېر شاعرانو بيا ډېر ساده او عام

فهمه شعرونه ويلي دي چي ټول خلک پرې پوهيږي. په پښتنو کي شعر او شاعرۍ د ډېر پخوا څخه دومره علاقه مندان درلودلي دي چي حتى د پښتنو شاعرانو او د قوم مشرانو لا يا پخپله شعرونه ويلي دي او يا يې پخپلو دربارو کي شاعران روزلي او ساتلي دي.

دلته به يو شمېر شاعران او د هغوی د شعر نمونې ولولو:

# امير کروړ

امير کروړ د امير پولاد زوی وو. دی په ۱۳۹ هجري سنه کي د غور د مندېش په کلي کي امير سو او جهان پهلوان يې باله. ځکه يې کروړ باله چي په يوازي سر به د سلو کسو سره جنګېده. په ۱۵٤ هجري کي وفات سو. شايد تر امير کروړ د مخه د پښتو ژبي نور ډېر شاعران تېر سوي وي خو دی د پښتو ژبي لومړی شاعر دئ چي د شعر نمونه يې زموږ لاس ته راغلې ده او هغه دا ډول ده:

زه يم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نسته
پر هند و سيند و پر تخار و پر کابل نسته
بل پر زابل نسته   له ما اتل نسته
غشی د من مي ځي برېښنا پر مېرخمنو باندي
په ژوبله يونم يرغالم پر تښتېدونو باندي
په ماتېدونو باندي   له ما اتل نسته

# خوشحال خان خټک



د پښتو ژبي نامتو شاعر خوشحال خان په ۱۰۲۲ هـ ق کي د پېښور ښخه د باندي په اکوړه نومي کلي کي زېږېدلئ دئ. د پلار نوم يې شهباز خان او د ختکو د قبيلې مقتدرمشر وو. د پلار تر مرگ وروسته پخپله خوشحال خان د قوم مشر سو.

خوشحال خان د مغلو سره ډېرې جگړې کړې دي او مغلوپه هند کي بندي کړئ وو.

خوشحال خان هر ډول حماسي (جنگي)، عشقي او د پنده ډک شعرونه ويلي دي.

خوشحال خان د علم او ادب په برخه زيات کارونه کړي دي. د راوړتې په وينا د خوشحال خان ليکلي کتابونه تر (۲۵۰) جلده پوري رسيږي. دی د پښتو ژبي يو ننگيالی شاعر وو، چي په يوه لاس کي يې توره او په بل لاس کي يې قلم وو او داسي به يې ويل:

د افغان پــه ننگ مي و تــړله توره
ننگيالی د زماني خوشحال خټک يم

## د خوشحال خان د کلام نمونه:

راشــه و غــړوه ســترگي — د جــهان نـنـدارِه گـوره
چي ښايست لري پــه ستورو — د اسـمان نـنداره گــوره
د دې خپل وجود پــه باغ کي — پــه هر شــان نـنداره گوره
چــي هــر گل و ته نظر کړې — د بــاغوان ننــداره گــوره

## بل ځای بیا داسي وايي:

مــرد هغــه چـــــي همتناک برکتناک
د عـــالمه ســره خوږ په زيست و ژواک

مخ يې مخ ، قول يې قول ، عهد يې عهد
نـــه دروغ ، نـه يې فريب ، نه تش تپاک

لــږ ويـــل ډېر يې کول په خاموشي کي
د غونچې غـونـدي خوله ډکه سينه چاک

چـي خبـره د پستــی د بلـــندۍ شي
پــه لـــويي لکه اسمان په پستي خاک

لـــکه ګل شــګفته روی تــازه پــه باغ
هــمېشه د ښــو بلـــبلو پـــري بلغاک

خوشحال خان د خپل ځوان زوی د مړيني پر وخت داسي وايي:

کشکي ځوان د پښتانه په ننګ کي مړ وای
نــه چي ګـــور لـــره روان شو لـــه تلتکه

خوشحال خان د ۷۸ کالو په عمر مړ سو. د ده وروستی وصيت دا وو:
"ما هلته ښخ کئ چي د مغلو سيوری مي پر خاوره و نه شي او د مغلو د سپرو د پښو ګرد (دوړه) مي پر هديره و نه لويږي".

# رحمن بابا



رحمن بابا په ۱۰٤۲ هجري قمري (هجري سپوږمیز) کې د پېښور په بهادر کلي کې زېږېدلئ دئ. د پلار نوم يې عبدالستار او په قوم مومند وو.

رحمن بابا د پښتو ژبې يو نامتو شاعر دئ. د ده شعرونه زياتره تصوفي جنبه لري.

رحمن بابا فقه او تصوف د ملا محمد يوسف يوسفزي څخه زده کړه او نور علوم يې په هند کې زده کړه. دی لوی عالم او زاهد وو او دی د زاهدۍ په هکله داسې وايي:

د ريـــا د زاهـــدۍ زمـــا تـــوبه ده
چې يې کانـدي ځوک په رسم و په عادت
پــه ورځ پــند او نصيحت وايي و بل ته
پــه شپه نــاست وي د مغان په خرابات
دين يې دام وي د دنيا په لار کښې ايښئ
پـــرې را اړوي وحشـــيان د مـخلوقات
د هـــغو پـــه لـــور يې سترګې وي ختلې
چـــې پـــه لاس کې سرمايه وي يا زکات
زه رحـــمن لـــه هسې خلـــقه پناه غواړم
هـــر چـــې لاف کړي په خلاف د مقامات

رحمن بابا په يوه غريبه کورنۍ کې پيدا سوئ دئ او په خپله غريب وو، خو دغه غريبۍ هيڅ وخت د ده همت نه دئ ټيټ کړئ او نه يې چا ته لاس اوږد کړئ دئ لکه

چي وايي:

څــوک دي را کانــدي قسم په کردګار
کــه درم لــرم پــه کــور کي يا دينار
زه درم او دينــار نـــه لــرم په کور کي
ولــي نــور خلــک مــي بولي دنيادار
دا پـــه دې چي نه له ځايه چېرته خوځم
نــه د هيڅ يــوه مخلوق يـــم منت بار
آب و خـــور لکه اسيــا په ځای را رسي
په خپل کور کي مي سکون دئ هم رفتار
لــکه ونـــه مستقيم پـــر خپل مقام يم
کـــه خـــزان را بــــاندي راسي که بهار

رحمن بابا بل ځای نا اميده کسانو ته داسي د اميد ډاډ ورکوي او وايي:

هر ګــــره ، ګره کشا لري کمبخته
نا اميد له خدايه غوټه جبين مشه

رحمان د دنيا کارونه نه کول او يو ملنګ سړی وو. شعرونه يې تصوفي او روحاني بڼه لري لري؟

په پښتو ژبه کي ښځو هم د پښتو ادب سره مينه درلودلې ده چي دلته يې يادونه کوو:

# نازو انا

مېرمن نازو د ملي مشر میرویس خان مور وه ، پلار یې سلطان ملخی نومېده چې له غزني تر جلدکه د پښتنو مشر وو.

مېرمن نازو یوه هوښیاره ښځه وه او د پښتو ادب سره یې ډېره مینه درلوده . پخپله یې هم شعرونه ویلي دي . په ۱۰٦۱ هجري کښې تازي رباط ته نیژدې زېږېدلې ده.

نازو انا ډېره مېلمه پالونکې ښځه وه . اولادو ته یې په اوداسه شیدې ور کولې . دلته به یې دغه یوه رباعي و لولو :

سحـــرگـــه وه د نـــرگس لـــېمه لانـده
څاڅکي څاڅکي یـې تـر سترگو څڅېده
مـا ویـل څه دي ښکلیې گله ولې ژاړې
ده ویل ژونـد مي دئ یوه خوله خندېده

**تمـــریـــن**

۱ ـ ادب څه ته وایي ؟ کومه وینا ادبي وینا ده ؟
۲ـ وایي چې د امیر کروړ تر مخه به نور شاعران هم تېر سوي وي نو ولې امیر کروړ د پښتو ژبې د لومړي شاعر په نامه یادېږي ؟
۳ ـ خوشحال د خپل زوی د مړینې په هکله څه ویلي دي ؟
٤ ـ خوشحال خان مرد (مېړه) په هکله څه ویلي دي ؟
٥ ـ د رحمان بابا په شعرونو کې روحانیت ښکاري د دې خبرې د اثبات د پاره څه دلیل لرئ ؟
٦ ـ نازو انا څوک وه او د کلام نمونه یې و وایاستن !
۷ ـ د رحمان بابا د دې لاندي شعر څخه څه مطلب اخلئ؟
لکه ونه مستقیه پر خپل مقام یم
که خزان را باندې را شي که بهار

# لـــــنډۍ

په پښتو ژبه کي يو ډول اشعار سته چي شاعر يې نه وي معلوم او د لنډيو په نامه يادېږي. لنډۍ زياتره د ښځو له خوا نارينوو ته ويل سوي دي.

د لنډۍ لومړۍ بيت نهه سېلابه او دوهم بيت يې ديرلس سېلابه وي. په پښتو کي لنډۍ په مختلفو حالاتو کي ويل سوي دي لکه حماسي (جنګي) د پسرلي په وخت کي، د مسافرت په وخت کي او په نورو وختو کي ويل سوي دي. دلته به يې يو څو لنډۍ د نموني په ډول راوړو:

## ۱ ـ ملي لنډۍ:

سـر مي لـه تن څخه جلا کئ
کـه مـي بـــګړۍ د بې ننګۍ ترلې وينه

ارمان دي نه کړي هغه ميندي
چي خپـــل اولاد د وطـن زيار ته لويوينه

د لـويو غـــرو سيل مي وکړ
اوس مي يـــاديږي د شينکي وطن باغونه

خدای مـــي دي درولي وطنه
دا څـه ژوندون دئ چي بې تا ږدم قدمونه

## ۲ ـ اجتماعي لنډۍ:

پـــه دنيـــا مـــه نازيږئ خلکو
دنيـــا فـــاني ده په ارمان به ځني ځو نه

پـــه اصل څـوک نه سړی کيږي
سړی هغه دئ چي يې خوی د سړي وينه

د سر دښمن مي هوښيار ښه دئ
زه د بې عقل پــه دوستي ستومانه يمه
مخ بې په دوارو خواوو تور وي
چي د قــلم پـــه شاني دوې ژبي لـرينه

## ۳ ـ حماسي (جنګي) لنډۍ:

توري بــه نــه کړو نو به څه کړو
چــي مــو شيدې د پښتنې رودلي دينه
جانان مي سر پر وطن کښېښود
پــه تـــار د زلـــفو به کفن ورته ګنډمه
تـــوري وهـــه برى بـــه مومې
که بـرى نه‌وي ځوانان تل په تورو مرينه
زلمي په جنګ کي تـــوره وکړه
ځکه هــمزولي ځپلې سمي راتـــه ږدينه
خال به د يار له وينـو کښېږدم
چي شينکي باغ کي ګل ګلاب و شرموينه

## ٤ ـ د پسرلي په وخت کي:

بـورا بـه خداى په ګلو مور کي
بــاغوانــه ستا نيمګړئ نيت مي ژړوينه
ستا بـــه د ګلو دوران تـــېر سي
زمـا بـــه پـــاته سي د زړه سوي داغونه
د ګــل ګـــلاب د ګــل د پـــاره
نجـونـي ولاړي د باغوان ســـــلام کوينه
خدايــه ما ګل د ګل ګلاب کـــې
چي د جانان په غېږ کي پاڼي پاڼي سمه
د ګلو ډک اوربل پري تيټ کـړه
که شيرين يار پر زکندن‌وي روغ به سينه

خدای دي د رود د غاړي ګل که
چي د اوبو په پلمه درسم بوی دي کړمه
زمـــا د زړه ګــــلابــــه راســه
پــر نـــورو خلکو پســـرلی پر ما غمونه

## ٥ـ د پردېسی په وخت کي:

يـــواري بـــيا پـــر دي لار راسه
پـــر پـــخواني پلونو دي و لوېدل ګرزونه
مسافــــري دي روزي مـــه ســــه
زه دي په سپينه خوله بيده پري ايښبي يمه
ګل مي په لاس کي مړاوئ کيږي
پــــردی وطــــن دئ زه يي چــاته و نيسمه
جانان چي ځي په مخ دي ښه سي
زړه يـــي زمـــا په زلفو بند دئ را به سينه

## ٦ـ د ببلتانه په وخت کي:

پــه تــــا بــه کوم وطن رڼا وي
زه د هجـــــران و تروږمی ته ناسته يمه
زه د پــسرلي تـــر ګل تــازه وم
ستا پـــه ببلتون کي لکه پاڼه ژړه سومه
زه هـــم هغــه مـــسته لـيلا يم
که رنګ مي ژيړ دئ له اشنا نه ببله يمه

### ۷ ـ د ديدن په وخت كي :

دیـــدن د ګلـــو غنچه نه ده
چي د رويبار په لاس يې يار ته و لېږمه
د لـــويي لاري مـــسافـــره
په ديدن موړ سوي كه مخ بيا در واړومه
خـــراغـــه بلي لمبي وكـــړه
وروستى ديدن دئ بيا به نه وي ديدنونه

### ۸ ـ د ګودر پر غاړه :

د ګـــودر هـــر بـــوټئ دارو دئ
چي پـــري لګيـــږي د نجنكيو پـلوونه
پر ګودر سور سالو ښكاره سو
ما وېل دا تورو اوبو اور واخيست مينه
كه ديـــدن كړې ګـــودر ته راسه
زه بـــه منګى پـــه لپو ورو ورو ډكومه

### تمـــريـــن

۱ ـ لنډۍ خرنګه شعرونه دي او زياتره د چا د خوا د چا د پاره ويل سوي دي ؟
۲ ـ د لنډيو تاثير د جنګ په وخت كي ښكاره دئ ، تاسي يې و ښياست !
۳ ـ و واياست چي د لنډيو شاعران څوک دي او خرنګه شعرونه دي ؟

# د عينو کاريز

د کندهار ښار ته نژدې يو کاريز دئ چې د عينو کاريز يې بولي. عينو يوه ننګيالۍ پښتنه مېرمن وه چې د احمدشا بابا په وختو کې يې ژوند کاوه.

وايي کوم وخت چې احمدشا بابا د هند په يوه سفر تئ نو د دې مېرمنې مېړه هم د احمدشا بابا په عسکرو کې ور سره وو. کله چې احمدشا بابا بيرته د هغه سفره ځخه بريالی او فاتح را وګرزېد او کندهار ښار ته نژدې يې امر وکړ چې هلته شپه وکړي او سبا به د ورځې په ښه شان او شوکت ښار ته ور ننوزي، نو د مېرمن عينو مېړه د شپې په پټه تر نور لښکر د مخه خپل کور ته ولاړ. د کور دروازه يې و ټکول. مېرمن عينو دروازې ته ورغله او پوښتنه يې وکړه: "څوک يې"؟

سپاهي جواب ور کړ: "زه يم".

مېرمنې بيا پوښتنه ځني و کړه: " څنګه راغلئ يې؟ احمدشا بابا څه سو؟ لښکر مو بريالی سو"؟

مېړه يې ورته وويل: "که مو لښکر نه وای بريالی سوئ نو زه به هم تا ته ژوندی نه وای راغلئ، د پښتنو لوی برى په نصيب سوئ دئ".

عينو بيا پوښتنه ځني و کړه :"نو ته ولې يوازې راغلې؟ نور لښکر څه سو"؟
مېړه ورته وويل:" نور لښکر ښار ته نژدې د بابا په امر پروت دئ چې سبا د ورځې په رڼا کې ښار ته ننوزي. زه ستا مينې نا قراره کړم او تر هغو د مخه راغلم. اوس ژر دروازه را خلاصه که چې سره ووينو".

عینو ور ته وویل: "ته تر چا نازولئ وې چې ملګري دي پرېښوول او د بابا د امر په خلاف را دمخه سوې او ماته راغلې؟ ایا ستا نورو ملګرو ښځې نه درلودې؟ او نه یې په سینه کې زړونه وه؟ دا ټول وه خو، هغو نه غوښتل چې د بابا د امر مخالفت وکړي.

که سبا نوري پښتني مېرمني خبري سي ما ته به څه وایي؟ دا ډېر لوی پېغور دئ هیڅکله تا ته دروازه نه در خلاصوم، څه ولاړ سه تر هغو زما دید پر تا حرام دئ څو بیرته ولاړ نه سې او سبا د احمدشا بابا تر بیرغ لاندي د خپلو نورو ملګرو سره یو ځای را نه سې".

د عینو مېړه د خپلي ننګيالۍ مېرمني له پېغوره و شرمېدئ او بیرته ولاړ، کله چې خېمې ته ور نیژدې سو، پیره دارانو ونیوئ او سبا د ده عسکري مشر د احمدشا بابا حضور ته راووست او عرض یې و کړ چې دغه سپاهي د شپې کور ته تللئ وو".

احمدشاه بابا پوښتنه ځني وکړه: عسکر خپله ټوله کیسه ورته و کړه.

احمدشاه بابا د هغې پښتني پر پښتونولي او افغاني روح باندي افرین ووایه او د هغې په خاطر یې د دې عسکر ګناه هم معافه کړه او مېرمن عینو ته یې یو کاریز ور وباخښه چې تر اوسه پوري د عینو په کاریز مشهور او د کندهار د ښار لمر خاته خوا ته یو رباط لیري پروت دئ.

**تمـــریـــن**

۱ـ د مېرمن عینو د لوړ همت په هکله څه فکر کوئ په لنډ ډول یې واضح کئ!

۲ـ ستاسي په نظر سپاهي ښه کار و کړ چې تر نورو د مخه کور ته راغئ؟ خپله تبصره و لیکئ!

# کلتور

کلتور ټول هغه څه دي چي انسانانو ته د پلرونو او نیکه ګانو څخه ور پاته سوي وي او د دوی په ژوندانه کي ښکاره رول و لري لکه: ژبه، دود (رسم او رواج)، خویونه (عادتونه)، دین، اخلاق او نور.

انسان د ټولنیز ژوند په نتیجه کي کلتور درلودلئ دئ. د یوې ټولني کلتور د بلي ټولني د کلتور سره توپیر لري. که د سویډنی ټولني او افغاني ټولني کلتورونه سره و ګورو نو به ډېر زیات توپیرونه پکښې و وینو.

د مثال په توګه په سویډنی ټولنه کي چي د کوچني غاښ ووزي، ژر یې وړي په یو ګیلاس اوبو کي یې اچوي او د شپې چي ویدیږي د کټ سر ته یې ایږدي. کله چي کوچنی ښه ویده سي نو مور یا پلار یې غاښ را اخلي او په ګیلاس کي د پنځو یا لسو کرونو یوه سکه ور اچوي. سهار چي کوچنی له خوبه را ویښ سي نو په ډېره خوښي هغه سکه اخلي. خو په افغاني ټولنه کي بیا کوچني ته ویل کیږي چي خپل وتلئ غاښ د موږک په غار کي واچوي، ځکه چي هغه د انساني کرامت جز بولي.

## د ټولني پرمختګ او کلتور:

د یوې ټولني پر مختګ د هغې ټولني په کلتور کي تغیرات را ولي. د دې خبرې د روښانه کولو د پاره به و وایو چي په وروسته پاته ټولنو کي د دوستۍ او ملګرتیا اړیکي ډېر سره نژدې وي. د دې معنا دا ده چي ډېر لیري خپلوان او ملګري نژدې اړیکي سره پالي. خو په مخته تللو ټولنو کي دغه اړیکي ډېر سست او کمزوري وي. دلته باید و وایو چي د یوې ټولني صنعتي پر مختیا تر اقتصادي پر مختیا د هغې ټولني په کلتور کي زیات اثر لري. په صنعتي ټولنو کي انسانان په زیاته اندازه پر خپلو پښو ولاړ وي او هر ډول اړتیاوي یې پوره وي.

سړی نه سي ويلای چي په مخته تللو ټولنو کي چي د دوستۍ او ملګرتيا اړيکي سست دي دا به ښه وي. د دې کار يو مثال به دلته راوړو:

څو کاله د مخه د مني د سړو بادو د چلېدو په وخت کي د ايستلينډ او ستوکهولم ترمنځ يوه کښتۍ چي په سوو انسانانو پکښي سفر کاوه د درياب په منځ کي ډوبه سوه. د اتو سوو تنو په شا و خوا کي کوچنيان، ځوانان او زاړه پکښي ډوب سوه.

ډيري کورنۍ په غم اخته سوې. د مړه سوو انسانانو پلرونه، ميندي، اولادونه، ورونه، خوندي او نور دوستان په خپلو کورونو کي يوازي پاته وه او د ډېر غم څخه يې زړونه چاودل. نه پوهېده چي څه و کړي. مقاماتو د تليفون لينونه ور ته خلاص کړه. هر چا به راډيو ته د خپلو نژدې دوستانو د غم په اړه تليفونونه کول او پوښتنه به يې کول چي څه و کړي. خلکو به ور ته جواب وايه او کومه چاره به يې ور ته ښودله.

پدغه وخت کي يو سويډني تليفون و کړ او ټولو خلک ته په خطاب يې داسي و ويل: "د وروسته پاته ټولنو په کلتورو کي ډېر ښه کار دادئ چي په دغسي پيښو کي نژدې دوستان د غم ځپلو و کورو ته راځي او دوی يوازيوالي ته نه پرېږدي".

د دې خبري څخه دا معلومېږي چي په کلتور کي هر تغير ته ښه نه سو ويلای.

د پر مختللو او وروسته پاته ټولونو د کلتورونو تر منځ د توپير يو بل مثال دا دئ: چي په وروسته پاته ټولنو کي يو شمېر عقايد لا ژوندي پاته دي کوم چي په پرمخ تللو ټولنو کي يا د منځه تللي دي، يا د ټولني ډېر لږ غړي ورته عقيده لري او يا يې د يوه کلتوري ميراث په توګه ساتي.

د دغه عقايدو يو مثال دا دئ چي يو شمېر سويډنيان د کليانو ايښودل پر مېز باندي د بد بختۍ نښه بولي.

د پر مخ تګ اثرات حتا په افغاني ټولنه کي لا هم د اوسني ډېر لږ پر مخ تګ له امله ليدلای سو. دا په دې معنا چي په افغاني ټولنه کي که دغه عقايد پر مخ له منځه نه دي تللي خو کمزوري سوي دي. دا ځکه چي په دې ټولنه کي ښوونه او روزنه د پخوا په پر تله څه مخته تللې ده.

دلته به د يو شمېر دا ډول عقايدو په هکله معلومات راوړو کوم چي په افغاني ټولنه کي د ډېر پخوا څخه رواج لري او خلک ور ته زياته عقيده لري. دا خبري خلکو ته هغه وخت ډېر د منلو وړ وې چي دوا، ډاکتر او نني پرمختګونه نه وه. کله چي د خلکو څخه د دې عقايدو د منځه تلو په هکله پوښتنه وسي نو دوی يې بيا په جواب کي وايي چي: "اوس د يوې خوا د خلکو عقيدې ضعيفي سوي دي او د بلي خوا هغسي پاک او سپېڅلي اوده ګران او تاويزګران نه سته".

دغه عقيدې لکه: اوده، دم، خورده، ټوټکه، کږنه، کرکه، کتنه، دروږ، چوکۍ اخيستل، زانګو ځړول، د مړو ننګول، روې، ښرا، کوډي، او نور. دلته به د هري هري کلمې په هکله معلومات وړاندي سي:

## اوده:

اوده د يوه روحاني سړي (بزرګ سړي چي په ژوند کي يې ښه کارونه کړي وي او تل يې د خدای لار نيولې وي) له خوا پر ناروغه يا هغه چا باندي چي مار، لړم، غنډي، غالبوزي (غومبسه) او يا کومي بلي خزندې چيچلئ وي د ناړو د تو (توف) کولو او يا چوف کولو په واسطه کيږي. دغه سړي ته اوده ګر وايي. سړی څرنګه کولای سي چي اوده ګر سي؟

اوده دوه ډوله ده:

۱ـ د خزندو د چيچلو د پاره اوده:

کله چي څوک کومي خزندې چيچلئ وي نو اوده ګر ته ورځي او د خزندې د زهرو د تاثير پر ضد اوده کوي. د اوده ګرانو په قول څوک چي و غواړي اوده و لري او و کړای سي چي يو څوک اوده کړای سي نو يو شمېر مقدسي کلمې وايي او د دې لاري

خپله اوده پخوي. کله چي يې اوده پيدا کړه نو بيا کولای سي څوک چي ناروغه وي او يا کومي خزندي چيچلئ وي اوده کړي. دغه سړی کولای سي چي يو بل چا ته هم د اودې اجازه و کړي.

۲ـ د ناروغی د له منځه وړلو اوده:

دا ډول اوده د ناروغانو د تداوي د پاره وي. زياتره وختونه د يوې کورنۍ ټوله غړي دا ډول اوده لري. د مثال په توګه په کندهار کي د دينارخيلو کورنۍ چي د کورنۍ زياتره غړي دا اوده کوي او د دې لاري يوه اندازه عايد په لاس راوړي.

پخوا چي به اوده ګر کوم نا روغه اوده کاوه نو به يې د خپلي خولې ناړي (لاړي) پر نا روغ توف کولې حتا د هغه په خوله کي. خو کله چي په ټولنه کي يوه اندازه پوهه، سواد، دوا او ډاکتر پيدا سوه د يوې خوا د اودې ارزش کم سو او د بلي خوا هغه د ناړو توف کول د منځه ولاړه. اوس اوده ګران يوازي او. يوازي پر ناروغانو باندي چوف کوي.

## دم:

دم هم د اودې په شان د يوه بزرګ چا له خوا څخه د يو شمېر مقدسو کلمو ويل او پر ناروغه باندي چوف کول دي. کله کله بيا څوک اوبه، بوره يا مالګه دموي او ناروغانو ته يې ور کوي. په ورځنيو خبرو کي کله کله چي څوک د کوم بزرګ سړي خبري کوي نو وايي چي" هو! دی ډېر ښه سړی دئ، دم او چوف هم کوي".

## خــــــورده:

کله چي يو بزرګ سړی (چي په ژوند کي يې ښه کارونه کړي‌وي او تل يې د خدای لار نيولې وي) مړ سي پلويان يې ښخ کړي. قبر يې ډېر ښکلئ ور جوړ کړي چي دغه قبر ور تلو ته زيارت وايي. قبر ته يې نژدې زياتره وختونه د قبر د ساتني د پاره يو سړی ژوند کوي چي دغه سړي ته متولي وايي. د قبر د سر سره يې يو غار جوړ کړئ وي. په دغه غار کي متولي پاکي خاوري او يا ډبري (تيږي) ور اچوي چي هغو ته خورده وايي.

کله چي څوک نا روغه وي د هغه غار څخه خاوري او يا ډبري را اخلي کله يې ځای پر ځای خوري او کله يې کور ته راوړي او د ناروغۍ په وخت کي يې په کار اچوي. که څوک په کور کي خورده و نه لري او زيارت د تلو امکان هم و نه لري نو د نورو خلکو څخه د خوردې د لاس ته را وړو غوښتنه کوي.

پخوا به خلکو خاورينه خورده خوړله او ډبرينه خورده به يې په اوبو کي اچوله او اوبه به يې چيښلې. خو په دې وروستيو وختو کي خلک په دې پوهېدلي دي چي د خاورو خوړل سړی ناروغه کوي نو هغه په لږ اوبو کي اچوي، کله چي يې اوبه څلالي سي بيا يې هغه څلالي اوبه چيښي.

**تــــوټکه :**

ټوټکي ډيري دي دلته به يې يو مثال راوړو: کله چي به کوچني ته اپليپسي يا پوليو يا کومه بله ناروغي پيښه سوه نو دغه ناروغي به يې د هلکو د ناروغۍ په نامه بلله. د دې ناروغۍ د تداوي د پاره به يې تور تېل په يوه لوښي کي ډېر تاوده کړه او د کوچني پر سر به يې و نيول چي لږ به ساړه سوه بيا به يې پر يوه دېوال و پاشل. دغه تيلو به مختلف شکلونه جوړ کړه. پدغو شکلو کي به يې و کتل. يو شکل به يې د حيوان لکه (پشي، سپی، پسه او نور). د دغو شکلونو څخه به يې يو د يوه حيوان د شکل سره تشبه کړ نو بيا به يې د هغه حيوان څخه د بيري په خاطر تاويز ور و کړ.

**کــــــړنه :**

ځيني خلک داسي عقيده لري چي که تور رنګه کالي واغوندي نو دوی ته کوم خطر رسيږي.

ځيني بيا وايي چي که تر لمر لوېدو وروسته تور دېګ د کور څخه و باسي نو خواري او غريبي ور ته راځي. دوی وايي چي دا کار موږ کړلئ دئ.

## کـــــــرکه:

کرکه په لغات کي بد راتلو ته وايي چي د چا د يو شی ښخه بد راځي. مګر په اصطلاح کي د ځينو خلکو هغه عقيدو ته وايي چي د کوم شي يا کړو په هکله يې لري. دوی داسي عقيده لري چي د کوم شي ښخه چي د دوی کرکه کيږي هغه و کړي نو په کورنۍ کي يې کومه ناوړه پېښه کيږي، يا به د کورنۍ کوم غړئ ناروغه سي او يا به يې کورنۍ ته کوم اقتصادي يا بل تاوان و رسيږي. د کرکي مثالونه ډېر دي.

دلته به يې يو يا دوه مثالونه راوړو:

۱ـ د ځينو خلکو د شنې وني د چپه کولو ښخه کرکه کيږي که څه هم زړه وي.
۲ـ يوې مور د خپل زوی عکس پر دېوال ځړولئ وو. کله چي کوم ښوک عکس ته نژدې تېر سو، عکس را و لوېد. مور يې و ويل: "کرکه مي و سوه". د دې معنا دا ده چي ګواکي زوی ته به يې کوم خطر پېښ سي.

## کـــــــتنه:

کتنه په لغات کي د يو شي کتلو ته وايي خو په افغاني کلتور کي کتنه د پال (فال) په شان د ځينو پيښنو په هکله معلومات په لاس را وړل دي.

کتنه ښوک کولای سي؟
په افغانستان کي په هره منطقه کي يو سړی وي چي ځان د دغه کار (کتني) متخصص بولي او وايي چي د هر شي په هکله معلومات ور کوي.

د څه شي په هکله معلومات ور کول کيږي؟
د مثال په ډول که د چا کوم شی ورک سي نو کتنه کوي. هغه سړی معلومات ور کوي. دغه معلومات کله کله د تصادف له مخي رشتيا سي بيا نو خلک وايي چي و ګوره څرنګه رشتيا يې وويل.

## درو‌ړ:

په افغانستان کي يو شمېر خلک ځان ته د بزرګ او پير په نامه د خلکو عقيده پيدا کوي. خلک نو بيا دي پير ته د تاويز، دم او چوف د پاره راځي. په زياته بيا که يې د کورنۍ کوم غړئ کومه ناروغي و لري. دغه کورنۍ ځان د نوموړي پير درو‌ړيان بولي او د کاله نظر د کورنۍ اقتصادي قدرت او د پير موثريت ته يو چرګ، پسه، ګلګۍ (خوسکۍ) او يا غويي ور کوي چي دغه چرګ، پسه، خوسکۍ او يا غويي د درو‌ړ په نامه يادېږي او کورنۍ د درو‌ړيانو په نامه يادېږي.

## چوکۍ اخيستل:

کله چي يو بزرګ سړی مړ سي نو دوستان يې يو ډېر ښه ښکلئ قبر پر جوړ کړي. دغه قبر د زيارت په نامه يادېږي چي زياتره وختونه يې د قبر و سر ته يوه ونه او يا لکړه او يا جګه ډبره (تيږه) هم و دروي چي هغه د شنختي په نامه يادېږي. خلک يې د مراد د غوښتلو په وخت کي ننګوي (ښوروي). د قبر و سر ته يې د خوردې غار هم وي. دې قبر ته خلک د زيارت په نامه د ناروغۍ د جوړېدو يا د مراد د اخيستلو د پاره ور ځي. د زيارت ورځي فرق کوي. ځينو زيارتو ته خلک په دوشنبې، ځينو ته په چهار شنبې، ځينو ته په پنج شنبې او ځينو ته په نورو ورځو ور ځي. خو ځيني خلک هره هفته يو زيارت ته ور ځي. دغه هره هفته ور تګ د چوکۍ اخيستلو په نامه يادېږي.

چوکۍ اخيستل زياتره د ښځو کار وي. کله چي د ښځي سره په کورنۍ کي د مېړه او يا د هغه د کورنۍ د خوا بده رويه کيږي او يا يې اولاد نه کيږي نو زيارت ته مخ ور ګرزوي او د زيارت چوکۍ اخلي. په دې هکله يوه ټوکه د خلکو تر منځ سته لکه چي وايي:

يوه ښځه چي د خپل مېړه څخه ډېره په تنګ راغلي وه، يوه زيارت ته را غله او د زيارت شنخته يې و ننګول او داسي غوښتنه يې و کړه: "اې... بابا! که به په ملامته يم د کونډکۍ پوړنۍ مي را پر سر کړې او که به را ملامت وي د مغزي پر دړه يې غوځار کې".

د اسلام د دين له مخي دا كار يو نا روا كار دئ چي سړى د خداى (ج) د بنده څخه بيا چي مړ هم وي مراد غواړي. هر څه چي څوک غواړي يوازي او يوازي د خداى (ج) څخه غوښتنه كولاى سي.

## زانګو ځړول:

زانګو د كوچنيانو د ارامولو د پاره په كار لويږي. خو كله چي د چا په كور كي اولاد نه كيږي نو يوه كوچنۍ ټوټه ټوكر را اخلي او په څلورو كونجونو پوري يې تار ور غوټه كوي. د ټوكر د ټوټې په منځ كي يوه ډبره (تيږه) ايږدي او د څلورو كونجانو تارونه يې يو ځاى سره غوټه كوي او بيا يې د زيارت د شنختي (وني) په يوه ښاخ ځړوي او اوس يې نو عقيده داسي وي چي په كور كي يې اولاد پيدا كيږي.

## كـــــــوډي:

دا يو لوى بحث دئ خو دلته به يې په لنډ ډول بيان و كړو. كوډي د دم په شان كړه دي چي خلک ورته عقيده لري. كوډګر هغه څوک دئ چي خلكو ته كوډي كوي. كوډي د يوه تاويز په ليكلو سره كيږي. كوډګر يو سړى وي او د ده څخه د مرستي غوښتونكي زياتره ښځي وي.

د كوډګر څخه څوک او د څه د پاره مرسته غواړي؟
د كوډګر څخه زياتره ښځي چي په ژوندانه كي د ډېرو ستونزو سره مخامخ وي مرسته غواړي. هغه ستونزي لكه:

- د مېړه ناوړه چلند
- د مېړه د كورنۍ بد چلند
- خواري او مسكيني
- اولاد نه درلودل
- د بني (د مېړه بله ښځه) درلودل او د هغې مناسبات د مېړه سره خرابول او يا خپل مناسبات تر بني د مېړه سره ښه كول.

## ښـــــرا :

ښرا د يو چا د پاره د خرابۍ غوښتنه کول دي. يو څوک هغه وخت ښرا کوي چي په مقابله خوا يې زور و نه رسيږي. تر هغه وخته چي سړی زور لري ، خپل زور چلوي. کله چي کمزورئ سو نو بيا په ښرا خوله خلاصوي او د خدای څخه د مقابل لوري د پاره د بربادۍ او خرابۍ غوښتنه کوي لکه چي وايي:

کور دي خراب سه!
ځواني مرګ/ مرګه سې!

## روي :

روي چا نه ده ليدلې او يو داسي بيروونکئ (وېروونکی) مفهوم دئ چي د خلکو تر منځ يې خبري کيږي. د خلکو د خبرو څخه داسي ښکاره کيږي چي دا يوه ښځه ده کوم چي د شپې د خوا روي کيږي. روي کولای سي چي د دروازو (ورونو) تر نريو چاکو د خلکو خونو ته ور ننوزي. خلک پدې عقيده دي چي روي نوي پيدا سوي کوچنيان وژني. د دې د پاره چي خلک د روي مخه و نيسي نو (بدره) چي د لرګي په شان يو ډول ماده ده او يو خاص بوی لري په کار اچوي. بدره د نوي پيدا سوي کوچني د پرې ايستو (خملولو) په ځای کي ايږدي نو بيا روي نه ورځي. روي په دې هکله داسي وايي:

" که بوی نه وای د بدرې          ما به کښلي وای د دې کوچني کلمې"

داسي فکر کيږي چي خلک پدې پوهيږي چي فلانۍ ښځه د شپې روي کيږي. ځکه يې نو خپل تر منځو يو متل جوړ کړئ دئ چي وايي: روي ته لا مخامخ څوک نه وايي چي روي.

د پښتنو په کلتور کي يو ډېر ښه دود د جرګې دود دئ:

# جـــــرگه

د افغاني کلتور یو ډېر غوره دود د جرګې دود دئ. کله چي په افغانانو کي کومه مهمه پېښه و سي نو مشران سره راټولیږي او د هغه مشکل د حل د پاره یوه غونډه جوړوي او په هغه غونډه کي پر موضوع باندي خبري کوي او د ټولو په خوښه یو تصمیم نیسي.

د جرګې فیصله د جرګې د ټولو غړو او بیا د هغه ټولني د اکثریت غړو له خوا منل کیږي.

په افغاني ټولنه کي د جرګې ډېر مثالونه لیدل کیږي چي د هغه جملې څخه یو مثال یې د میرویس نیکه ټاکل د قوم د مشر په توګه او بیا کله چي میرویس نیکه د هیواد د ازادی د پاره هر تصمیم نیاوه نو به یې جرګه راټولوله او د جرګې د فیصلې سره سم به یې کړنه کوله.

دوهم مثال یې د کندهار د شیر سرخ بابا په زیارت کي د پاچا د ټاکلو جرګه ده په کومه کي چي احمد شاه بابا د پاچا په توګه و ټاکل سو. د شیر سرخ د زیارت د جرګې حال د کتاب په پای کي د نظم په شکل لوستلای سئ.

تمـــریـــن

١ ـ کلتور څه شی دئ او د وروسته پاته او مخته تللو ټولنو کلتورونه یو د بله څه فرق لري؟
٢ ـ د اودې او خوردې په هکله خپل نظر ښکاره کړئ!
٣ ـ سرې څه وخت ښرا کوي؟
٤ ـ د جرګې دود په افغاني کلتور کي څه ارزش لري؟
٥ ـ میرویس خان نیکه او احمد شاه بابا څرنګه و ټاکل سوه؟ د کتاب په پای کي مه پاڼه و ګورئ!

# موسیــقي

موسیقي د ساز، اواز او شعر څخه منځ ته راځي. ساز د موسیقي د الاتو د ډلو څخه لکه تبله، رباب، ارمونیه (هارمونیه)، ډول او داسې نورو څخه عبارت دئ. اواز د انسان د حنجرې (ستونې) څخه راوزي او د مختلفو انسانانو اوازونه مختلف وي، ځوک خوندور اواز لري خو د ځینو خلکو بیا اواز زړه ته دومره نژدې نه وي. د شاعر شعر هم په موسیقي کې د اورېدونکو پر احساساتو زیاته اغېزه لري.

ښه او خوندور اواز نه یوازې پر انسانانو اغېزه لري بلکې پر حیواناتو او مرغانو هم اغېزه لري. وایي کله چې به داود علیه السلام خپل سندریز اواز پورته کړ، سور سوو غاړو ته به یې مرغان بې هوښه سوه، ښاروی او ځناوران به یې خوا ورغ ته را ټول سوه او خوند به یې ځنې اخیست.

موسیقي پر حیواناتو هم اغېزه لري لکه مار چې د تولې و ږغ ته نڅا کوي، پسونه او وزې د شپانه د تولکې پر ږغ سره را ټولیږي او خوند پر اخلي.

ځیني خلک وایي چې د موسیقي الات د ککنس (ققنس) د اواز څخه چې یو خیالي مرغه دئ را پیدا سوي دي. وایي چې د ککنس په مشوکه کې ۳۶۰ سوریان دي چې د هغه څخه ډول ډول اوازونه راباسي. دا مرغه د ژوندانه په پای کې لرګي سره را ټولوي او پر کښیني د مشوکي څخه راز راز خوږې نغمې را باسي وروسته وزرونه و ښوروي او لرګي اور واخلي، دی و سوځل سي، د ایرو څخه یې هګۍ را پیدا سي او د هګۍ څخه بل ککنس پیدا سي.

**تمـــریـــن**

۱ ـ موسیقي څه شی ده او د څه شي څخه پیدا کیږي؟
۲ ـ د داود علیه السلام سندریز ږغ څه تاثیر درلود؟
۳ ـ ایا موسیقي پر حیواناتو هم تاثیر لري؟

# علامه سید جمال الدین افغان

سید جمال الدین افغان په (۱۲۵٤) هجري سپوږمیز کال د شعبان په میاشت کي چي د ۱۸۳۹ م سره برابر دئ د کنړ په ولایت کښي په یوه دین دوسته کورنۍ کي زېږېدلئ دئ. د پلار نوم یې سید صفدر وو چي د امیر دوست محمد خان د دربار د لوړو خلکو څخه وو.

په سید جمال الدین کښي د کوچنیوالي څخه د ښه استعداد او نبوغ نښي نښاني څرګندي وې ځکه نو پلار دی لومړی د کامې د شیرګړ د حضرتانو په دیني مدرسه کي شامل کړ. بیا پلار د ځان سره کابل ته بوت، هلته یې له مشهورو استادانو څخه دیني علوم، ریاضي، طب، منطق او فلسفي کتابونه ولوستل او د دې تر څنګ یې پوځي زده کړه هم و کړه. په لږه موده کي ډېرعالمان ده ته د تدریس کولو څخه عاجز شول. په زلمي توب کي یې هند ته سفر و کړ او هلته یې د دیني او نورو عصري علومو زده کړي بشپړي کړې. بیا حجاز ته ولاړ، یو کال د عربو په ملکونو کي و ګرزېد.



*سید جمال الدین افغان*

کله چي سید جمال الدین افغان په دغو سفرونو کي پر زده کړه سربېره د شاو خوا سیمو د سیاسي، اجتماعي او اقتصادي حالت ډېره ژوره مطالعه و کړه نو دا فکر ور سره پیدا شو چي څرنګه خپل هیواد، ټول اسلامي هیوادونه او نوره نړۍ د انګرېزانو د استعماري بند، اثر او نفوذ څخه خلاصه کړي، نو یې عملي هلي ځلي شروع کړې.

پدې وخت کي امیر محمد اعظم خان د امیر دوست محمد خان زوی د افغانستان پاچا وو، سید جمال الدین د نوموړي پاچا د نژدې مشاورینو او د دربار د مخورینو څخه وو. د امیر محمد اعظم خان د پاچاهۍ دوره ډېره لنډه وه او بیرته امیر شیرعلي

خان د دوهم ځل د پاره پاچا شو . امیر شیرعلي خان له خپل ورور ( محمد اعظم خان ) سره د نژدې تعلقاتو ، یا د انګرېزیانو په اشاره او یا د سید جمال الدین څخه خپلې واکمنۍ ته د خطر په نسبت دی د خپل هیواد پرېښودو ته اړ کړ . سید له هیواد څخه تر وتلو وختي لا خپل ټول پلانونه او مترقي پروګرامونه د وخت امیر ته و سپارل او له هیواد څخه و وت .

لومړی هند ته ولاړ ، خو انګرېزیانو د هغه ځایه څخه و ایست او له هغه ځایه مصر او بیا ترکیې ته ولاړ . په ترکیه کې د هغه هیواد د صدراعظم په غوښتنه د پوهنې او معارف د وزارت د مجلس غړی و ټاکل شو . سید د ترکیې څخه مصر ته ولاړ او هلته یې نهه کاله د الازهر په اسلامي مدرسه کې د استاد په توګه دنده تر سره کړه . په ۱۸۷۹ میلادي کال کې له هغه ځایه وتلو ته مجبور شو، هند ته ولاړ . ډېر ژر انګرېزانو مجبوره کړ چې له هنده څخه هم ووزي . له هغه ځایه لندن ته ولاړ او هلته یې د (ضیاالخافقین) په نامه یو اخبار پیل کړ او له هغه ځایه فرانسې ته ولاړ او هلته یې هم یو اخبار پیل کړ . اخبار یې د فرانسې حکومت بند کړ ، هغه وو چې د هغه ځایه څخه ترکیې ته ولاړ .

په ۱۳۱٤ هجري سپوږمیز ( ۱۸۹۷ ) میلادي کال د سرطان د ناروغۍ له امله وفات شو او په ترکیه کې ښخ شو . چې وروسته بیا ۱۳۲۳ هجري لمریز ( ۱۹٤٤ ) میلادي کال کې د ده تابوت د ترکیې د حکومت په موافقه کابل ته راوړه شو او د کابل پوهنتوون په احاطه کښې په شاندارو مراسمو ښخ شو

**تمـــریـــن**

۱ ـ د سید جمال الدین افغان د پوهې او نبوغ په هکله څه معلومات لرئ ؟
۲ ـ امیر شیر علي خان ولې سید جمال الدین د هیواد څخه و ایست ؟
۳ ـ سید جمال الدین چیرې مړ او ښخ سو او بیا یې جنازه څرنګه کابل ته راوړه سوه ؟

# مــــلالــــه



امیر شیرعلي خان

د امیر شیر علي خان تر مرګ وروسته د کابل حالت ډېر خراب وو انګرېزان مخته راتله ځو په اخر کي سردارانو سردار محمد یعقوب خان پسله ۸ کالو بند څخه د بندیخانې څخه را و ایست او پاچا یې کړ.



امیر محمد یعقوب

امیر محمد یعقوب خان چي یو بې تجربې سړی وو انګرېزانو و نیوئ او ګندمک ته چي د کابل او جلال اباد تر منځ یو ځای دئ بوت او هلته یې د افغانستان په تاریخ کي خرابترینه معاهده په امضا کړه. پدې معاهده کي افغانستان ډېري نوري مځکي له لاسه ورکړې جمادي الثاني ۱۲۹٦ هـ ق ۲٦ مي ۱۸۷۹ م .

د ګندمک د معاهدې له مخي افغانستان پښین، کورم او خیبر له لاسه ورکړه او هم د دې قرارداد له مخي د انګرېز نماینده په کابل کي ځای پر ځای سو.

دا کار د افغان ملت د منلو وړ نه وو ځکه نو مجاهدینو په مېړانه د انګرېز سره جنګ پیل کړ. د انګرېز نماینده (کیوناري) یې د ټولو ملګرو سره د کابل په بالا حصار کي مړ کړ او د بلي خوا د کندهار د میوند پر دښت د پښتنو نر، ښځي، زاړه او واړه د غازي ایوب خان د امیر شیر علي خان د زوی په مشري د خپل هیواد او خپلي ازادۍ د ساتني د پاره د قربانۍ ډګر ته حاضر سوي وه. ټاکنده غرمه وه،

غازیان تړي ، ستړي او ستومانه ښکارېدل ، د میوند پر دښت اوبه هم نه وې ، نژدې وو چې د پښتنو لښکر له تندي ماته وکړي . له بلې خوا د دښمن لښکر ډېر قوي او په راز راز وسلو مجهز وو . پدغه وخت کې د پښتنو بیرغچي هم ټپي سو ، چې دې وضعیت انګرېزانو ته د یوې شدیدې حملې جرأت ورکړ . خو په دې حال کې یوه پښتنه پېغله میدان ته راغله او د پښتنو ملي بیرغ یې په خپلو سرو منګلو له مځکې پور ته کړ او دا لنډۍ یې و ویل: ۲۷ د جولای ۱۸۸۰ م.

خال به د یـــار د وینو کښېږدم چې شینکي باغ کې ګل ګلاب و شرموینه
که په میوند کې شهید نه سوې خدای ږو لالیه بـــې ننګۍ ته دې ساتینه



د دې پېغلې رېغ لکه يو اسماني رېغ وو چې د پښتنو غازيانو وينې يې په جوش راوستلې او ټولو د الله اکبر په يوه ناره پر غليم حمله و کړه او خپله خاوره يې د پرديو متجاوزينو له ناپاکو قدمو څخه خلاصه کړه.

**تمـــريـــن**

۱ ـ و واياست چې د ګندمک معاهده چا امضا کړه او د افغانستان په ګټه وه که په تاوان؟

۲ ـ د افغانانو او انګريزانو تر منځ ولې جګړه (جنګ) و سو؟

۳ ـ د افغان او انګرېز په دې جګړه کې ملالې پېغلې څه و کړه چې جګړه د افغانانو په ګټه پای ته و رسېده؟

# ځوانانو ته بلنه

يـــا ســـــاروان د قـــــافلې شه
يــــا روان شـــه په کاروان کې

اخـــر تـــه خـــو هم انسان يې
کار پـــــه مثـــل د انســان کړه

پــــه دې لـــوی جهان کې اوسې
لـــــږ څه غـــم د خپل جهان کړه

پــــه شخصي ســــــودا کې ګيره
تــــــګ پــــــه لاره د کاروان کړه

هـــمبش لافـــــې د ځوانۍ کړې
لـــــږ خـــو کار هم لکه ځوان کړه

یـــا د بـــل پســـــې روان شه
یـــا نـــــور ځان پسې روان کړه

ښـــه پـــوهېږمــــــه هوښیار یې
ســــړی تـــــوب غواړې جهان کې

عـــــمر تېـــر دي پـــه سودا کړ
خـــــو مـــــېږه د عمل نـــه شوې

نـــه دي لاره څـــه پـــیدا کـــړه
نـــه د بـــل ســـره پـــه تله شوې

خوشي شين شوې خوشي لوی شوې
خـــوشي رنګ لکه وابنــــه شوې

پـــیسې خـــــو دي پـــیدا کړې
مـــګر نــــور وایـه چې څه شوې

مـــنډه دلـــته منـــډه هـــــلته
نـــه د دې نــــه د هغـــه شوې

د اقـــدام درکـــــې کـــمی دی
نـــور خـــو ښه یې په خپل ځان کې

مـــوږ دي ویــــنو فکر کړای شي
تــــــل خبـــــــري د وطن کړې

د خــــبرو خـــــو هم ځـــای وي
کـــله شین بـــــه دا چمن کړې

ځـــــان بـــــه سپک کړې په خبرو
کـــــه هـــر څـــو خبري من کړې

پـــــه تنقید بـــــه دا ونـــه شي
چـــي ځـــــان بل ته قدر من کړې

مـــوږ خـــــو غـــواړو چې وطن ته
ځـــان پـــــــه مثل د کوه کن کړې

یا دا فکر سودا پرېږده
یا را ګډ شه په میدان کي

تزبزب یو لوی مرض دی
ځان دي خلاص کړه له وسواسه

توکل د نرو کار دی
په همت سره را پاڅه

د میړونو کار خدمت دی
عزم وکړه له اخلاصه

دا نامردي اسرې پرېږده
بېخ د تمي له زړه باسه

لږ خو فکر ځان ته و کړه
دا څه ژوند دئ بې اساسه

د ایمان ډېوه بلېږي
نه مړه کېږي په توپان کي

د خادم دغه ارزو ده
چي افغان بیرته افغان شي

شوکېدلی ترهېدلی
سم په لار بیرته روان شي

وقف د فکر او عمل شي
ډوب په فکر د خپل ځان شي

یو ملت یو یې هدف وي
په رشتیا افغانستان شي

د پردو لاسونه لنډ شي
د خپل ځان واک یې د ځان شي

نو خادم به پکي فرد وي
څه چي کړي په دې جهان کي

قیام الدین (خادم)

# احمد شا بابا او د هیواد مینه

په پښتنو کې لوی لوی پاچاهان تېر سوي دي. لودي پاچاهانو په خورا عظمت پر ټول افغانستان او هندوستان باندي حکومت کاوه. سوري شیرشاه چي د هند مشهور شهنشاه وو، حکومت یې د ګنګا له څنډو څخه د پښتنو تر غرو پوري خپور وو. مګر اکثرو شهنشاهانو د وطن غرونه پرې ایښي او په خپلو نیول سوو مملکتو کې ورک او مشته وه.



احمدشا بابا په هیواد دوستي او سیاست کي بېله شهنشاه محمود زابلي څخه بل سارئ نه درلودئ، ځکه دوی دواړو سره له ټولو نیول سوو ملکو مرکز په خپل هیواد کي ټینګ کړئ وو او دغه مځکه یې د خپلو ټولو مملکتو عمراني، ادبي، علمي او اقتصادي مرکز ګرزولې وه.

احمدشا بابا د پښتنو په اصلي مملکت کي له ملتانه تر هراته په ډېر کوچنیوالي کي ژوند کړئ دئ. خو خپل د خاړپوخو ځای یې نه دئ هېر کړئ.

احمدشا بابا په دې ټکي ښه پوه وو چي پښتنانه ته نه ښایي چي د دغو غرو مرکزیت له لاسه وباسي. د احمدشا بابا دغه وطني مینه او ملي نظر وو چي د پښتونخوا په غرو کي یې بیا د افغانستان یو مستقیل دولت تشکیل کړ کوم چي تر ده وروسته لا څو پېړۍ پر هغه تشکیل پاته دئ.

څنګه چي پر احمدشا بابا خپل هیواد ډېر ګران وو نو دغه دوستي یې په دغه بیت کي داسي ښکاره کړې ده:

د زړه ګل به مي له خاورو کا سر پورته
کــه نسیم لــه کوهستانه پـــــاڅېده کا

د افغانستان د غرو نسیم او نرۍ وږمه د یوه پښتون کله هېرېږي. نو احمدشا بابا هم په پردیسي کي داسي ویلي دي:

د زړه فـــریاد مــي لـه جدایۍ اور مي ورک نــه شي د اشنایۍ
چي پر وطن وي زړه په قرار وي یــم بــې وطـــنه پــه پردېسۍ

**احمدشا بابا یو بل ځای داسي وایي:**

ستا د عشق لـه وینو ډک سوه ځګرونه
ستا پــــه لاره کي بایلي زلمي سرونه
تــاتــه را شــمه زړګی زما فارغ شي
بې لــه تــا مي اندېښني د زړه مارونه
کـــه هر څو مي د دنیا ملکونه ډېر شي
زما به هېر نه شي دا ستا ښکلي باغونه
د ډهلي تخت هــېرومــه چي را یاد شي
زمـا د ښکــلي پښتونخوا د غرو سرونه
د رقیب د ژوند متاع به تار په تار کـم
چي پــه تـــورو پښتانـــه کـــا ګزارونه
د فـــریـــد او د حمید دور به بیا شي
چــي زه و کـــاندم په هر لوري تاختونه
کــه تمامــه دنیا یو خوا ته بل خوا شي
زمـا خـــوښ دي ستا خالي تش ډګرونه
احمدشا بـــه دغـــه ستـــا قدر هېر نه کا
کـــه و نیسي د تــمام جـــهان مـــلکونه

تمــــريــــن

۱ ـ احمد شاه بابا نه يوازې پاچا وو بلکه يو قهرمان ، هيواد دوست او ښه شاعر هم وو ، پدې هکله څه پوهېږئ ؟

۲ ـ کله چې احمد شاه بابا هند و نيوئ ولې هلته پاته نه سو ؟

۳ ـ د احمد شاه بابا د هيواد دوستۍ په هکله چې څه پوهېږئ و يې ليکئ !

# مکاره ګيدړه

زمونږ د خلکو تر مينځ د مکارې ګيدړې کيسې ډيرې کيږي ، چې د هغو د جملې څخه يوه دغه کيسه ده :

يوه ورځ ګيدړه ناسته وه او د ځان سره يې فکر کاوه چې په څه شان به يو څو ورځې مېله و کړي . کله چې يې چل جوړ کړ نو راغله و يوه ډنګر چغال ته يې ووېل : "چغاله وروره ! که ته زما خبرې و منې ، عملي يې کړې او ناره و نه کړې نو زه او ته به دواړه ښه ژوند و لرو". چغال هم موافقه ور سره و کړه .

ګيدړې د چغال لکۍ ور رنګ کړه ، زمرې ته يې راوستئ او ورته ويې ويل : "زمريه وروره ! دغه شير ادم دئ . د ده احترام پر ما او تا دواړو لازم دئ . که يې احترام و نه کړو نو زما او ستا دواړو ژوند به په خطر کې وي".

زمري چي به د شیر ادم سترګو ته و کتل فکر به یې وکړ چي اوربز خویې د چغال دئ ، خو کله چي به یې لکۍ ته وکتل نو بیا چغال نه وو . نو زمري د ګیدړي څخه پوښتنه وکړه :

"د شیر ادم د احترام د پاره څه وکړم"؟

ګیدړي جواب ور کړ :" ته به ولاړ سې شیر ادم ته به خواړه پیدا کړې او ورته را به یې وړې". زمری هم ولاړ ، یوه هوسۍ یې ښکار کړه او را یې وړه شیر ادم ته یې ور ټوټه ټوټه کړه او هغه ښې ښې غوښې یې چغال او څه یې ګیدړي وخوړې په هډوکو پوري چي څه پاته وې هغه زمري و خوړې .

زمري څو ورځي او شپې په ډېر تکلیف تیري کړې او نه پوهېدئ چي څه و کړي .

هره ورځ چي به د چغال د نارې وخت راورسېد نو چغال به ډېر کوښښ وکړ چي ناره و نه وهي . څو ورځي وروسته یې خبره تر طاقت تېره سوه او ګیدړي ته یې وویل : " ګیدړي زه نور نه سم کولای چي ځان ټینګ کړم . زه باید هغه خپل د پلار او نیکه عادت پر ځای کړم". ګیدړي چي هر څومره زارۍ ورته وکړې چغال قانع نه سو .

ګیدړي ورته وویل :"زه ځم تر هغه ونې لاندي د هغه غار په خوله کي کښېنم . کله چي زه هلته ورسېدم ، ته ناره وکړه ، زه به دي و ګورم چي زمری څه درکوي".

کله چي ګیدړه د غار په خوله کي کښېناسته چغال ناره و کړه . زمري سمدستي پر حمله کړه ، چغال یې ټوټه ټوټه کړ او په ګیدړي پسې یې هم و ځغستل . ګیدړه چي ډېره مکرجنه وه په غار ننوتله .

# د کتاب لغاتونه

په دې ځای کې د کتاب د هغو لغاتونو معنا لیکلې سوې ده کوم چې زده کوونکو ته سخت او مشکل دي. په ځینو ځایو کې د یوه لغات معنا زده کوونکو ته یو نوئ لغات وي. د دغه نوي لغات د مشکل د پاره به اصلي لغات په یو بل ډول ترجمه سوئ وي چې کله کله به یې دغه نوې ترجمه سل په سل کې د لغات د اصلي معنا سره برابره نه وي. خو په هر صورت ما یې بله چاره و نه موندله.

ګرانو زده کوونکو امید لرم چې د لغاتو شمېر درته زیات ښکاره نه سي. په دې ځای کې ستاسي سره د مرستي په خاطر ډېر داسي لغاتونه راغلي دي چې تاسي په تیرو سوو ټولګیو کې زده کړي دي.

**عادل آمر :**

| | | | |
|---|---|---|---|
| عادل | با انصافه | آمر | امر کوونکئ |
| وفات | مړینه ، مرګ | یاران | ملګري |
| خلافت | تر حضرت محمد (ص) وروسته هغه د ده مبارک کار کول | خلیفه | تر حضرت محمد (ص) وروسته د ده پر ځای چي يې کار پيل کړ |
| رایت (رعایت) | د یوه هیواد خلک چي د هغه هیواد د پاچا یا آمر تابع وي | انګړ | میداني |
| کټو | دېګ | نغری | د اور د بلولو ځای |
| دلاسا کول | ارامول | غلي | چپ ، ارام |
| پرې | په | غولول | خطا ایستل |
| بیت المال | د ټول هیواد د خلکو شتمني | | |

**عنبر :**

| | | | |
|---|---|---|---|
| کوی | کوڅه | زلفي | لږ وېښتان چي پر مخ را ایله وي |

**پوهنه :**

| | | | |
|---|---|---|---|
| بشري | انساني | ګمراهي | بې لاري ، غلطي |
| جهالت | نا پوهي | انکشافات | پر مختیاوي |
| تیاره | تاریکه ، نا پوهي | اثرات | تاثیرونه |
| سماوي | اسماني | ادیان | دینونه |
| توصیه | لار ښودنه | تحصیل | په لاس راوړنه |
| فریضه | وظیفه ، کار | حدیث | د پیغمبر خبره |
| استفاده | ګټه اخیستل | پیاوړئ | لوی ، تکړه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| عیسی | تر حضرت محمد (ص) د مخه د عیسوي دین پیغمبر وو | قارون | ډېر خان اما بخیل سړی |
| ایږ | خرس | ګاو | غویی |
| دانا | پوه | نا دان | نا پوه |

## وروستی لوست:

| | | | |
|---|---|---|---|
| حساس | چي ژر پوهیږي، ژر د یوې پیښي تر تاثیر لاندي را ځي | ژباړل سوي | ترجمه سوي |
| ننداره | سیل | هرو مرو | خاما خا |
| ضرور | خاما خا | ږوږ | غال مغال، ږغونه |
| شفقت | مهرباني | وینا | خبري |
| افسوس | ارمان | ضایع | تاوان، د لاسه ور کول |
| غیور | غیرتمن | محکوم | تر امر لاندي، مظلوم |
| سړه سنا | چپه چپتیا | غومبر | د کوتري ږغ |
| بې وزلي | خواره، مسکینه | خواشینۍ | خوابدۍ، خپګان |
| باجه | موزیک | تروم | د موزیک آله چي د پو کولو له لاري ږغ ترې راوزي |
| ملت | د هیواد خلک | | |

## د سحر وږمې:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ګاره | لو ډبره (تیږه) | نښې | نښانې |
| هډونه | هډوکي | زمان | وخت |
| ګردونه | دوړي | په خیر | په شان، په ډول |
| شېلو | په دښتو کي د باران د اوبو د بهېدو لاره | سندره | غزل |
| قتلونه | مرګونه | ملکونه | وطنونه، هیوادونه |
| خالق | خدای | خونړي | د وینو ډک |

| | | | |
|---|---|---|---|
| و مسېږئ | و خاندئ | مذهب | په دین کي یوه لاره |

## نوئ ډاکتر:

| | | | |
|---|---|---|---|
| معاینه خانه | د ناروغ د کتلو کوټه | مصروف | لګیا ، اخته |
| مرض | ناروغي | وزګار | بې کاره |
| عاجل | ژر ، ضروري | | |

## ژبــــه :

| | | | |
|---|---|---|---|
| موجودات | پیدا وار | منبع | د لاس ته راوړو ځای |
| سلوک | کړه | محدود | په اندازه |
| مغلق | سخت ، مشکل | لرغون پوهان | د پخواني شیانو پوهان |
| پېړۍ | سل کاله | اثار | لیکني ، لاس ته را وړني |

## پښتو :

| | | | |
|---|---|---|---|
| معتبر | د قدر وړ | بډای | خان |
| وګړي | خلک | پوهنځی | فاکولته |
| محصول | لاس ته راوړنه | لغوي | لغاتونه |
| پانګه | سر مایه ، ذخیره | متاثر | تر تاثیر لاندي |
| نفوذ | تاثیر | مغلوب | ناکامه ، بایلل |
| فولکلور | چي د خلکو تر منځ وي | شفاهي | په خوله |
| یرغل | حمله | دربار | د پاچا د کار ځای |
| پالل | غمخوري کول | طلایي | د سرو زرو |
| ستر | لوی | تحریک | حرکت |
| ځلانده | روښانه ، زرین | صدمه | تاوان ، ضرر |
| جبیره | چاره | القاب | رسمي نومونه |
| تعمیم | عامول ، ټولو ته رسول | فاضلان | پوهان |
| قواعد | قاعدې | پانګه | سرمایه |
| پرته | ببله | څرک | معلومات ، لاره |
| تصوف | بزرګي ، دیني | مبارزه | مجادله ، شخړه |
| ور څېرمه | ور نژدې | لړ | سلسله ، کتار (قطار) |
| سودا ګر | تجار | روایتونه | د خلکو د خولې |
| بشپړ | پوره | پاس | لوړ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| انجمن | مجلس | بنسټ | اساس |
| ترميمونه | جوړوني | | |

## ادب :

| | | | |
|---|---|---|---|
| ښېګڼه | ښه والئ | اغېزه | تاثير |

## خاني لاړه :

| | | | |
|---|---|---|---|
| خانزاده | د خان زوی | غوندي | په ډول ، په شان |
| بادار | خاوند ، څښتن | بې رونقه | بې ډوله ، نا چله |
| ديوانونه | ليکلي کتابونه | پارول | را و لاړول ، هڅول |
| تشبهات | يو شی د بل سره کتل | استعاره | ويل يو څه مقصد بل څه |
| عام فهمه | چي ټول په پوهيږي | | |

## امير کروړ :

| | | | |
|---|---|---|---|
| اتل | قهرمان ، غښتلئ | غشی | نېزه ، تېره تير |
| من | اراده | ميرڅمن | دښمن |
| ژوبل | زخمي والئ | يونم | ځم ، سفر کوم |
| يرغالم | حمله کوم | | |

## خوشحال خان :

| | | | |
|---|---|---|---|
| نامتو | نوم لرونکئ ، مشهور | قبيله | کام ، قوم |
| مقتدر | د عزت وړ | پند | عبرت ، يو څه ځيني زده کول |
| ننګ | غيرت | ننګيالی | غيرتي ، غيرتمن |
| و غړوه | و ګرزوه | ننداره | سيل |
| وجود | بدن | نظر | کتل ، ليدل |
| همتناک | غيرتي | زيست | ژوند |
| ژواک | ژوند | عهد | قول |
| فرېب | خطا ايستل | خاموشي | چپتيا |
| غونچې | غوټۍ | سينه | ځيګر ، ټټر |
| پستي | کښته والئ | بلندۍ | لوړوالئ |
| خاک | خاوري | شګفته | خلاص |

| | | | |
|---|---|---|---|
| روی | مخ | تلتک | بړستن |
| بلغاک | نارې | وصیت | تر مرګ دمخه وروستۍ خبري |

**رحمن بابا :**

| | | | |
|---|---|---|---|
| نامتو | مشهور ، نوم لرونکئ | جنبه | پلوي ، خوا نیول |
| ریا | ځان ښکاره کول | رسم | دود ، رواج |
| مغان | د نشې ځای | خرابات | د نشې او ساتیري ځای |
| لاف | باټې | مقامات | امران |
| سرسایه | لکه زکات د کوچني اختر په ورځ خوارانو ته ور کول کیږي | همت | غیرت |
| کردګار | خدای (ج) | درم | درهم ، عربۍ پیسې |
| دینار | دا هم عربۍ پیسې دي | خوځم | ښورم ، حرکت کوم |
| منت بار | تر منت لاندي | آب | اوبه |
| خور | خواړه | اسیا | ژرنده |
| سکون | سې حرکته | رفتار | تګ ، تلل |
| مقام | د خلکو په منځ کي ځای لرل | خزان | منی |
| بهار | پسرلی | ګره | غوټه |
| ګره کشا | غوټه خلاصوونکئ | جبین | تندی |

**نازو انا :**

| | | | |
|---|---|---|---|
| رباعي | څلور بیته | لیمه | سترګي |

**لنــډۍ :**

| | | | |
|---|---|---|---|
| سیلاب | په یوه کلمه کي چي زږغ دریږي | بګړۍ | لنګوټه |
| فاني | د منځه تلونکی | بری | کامیابي |
| کفن | هغه ټوکر چي مړئ پکښي پېچي | څپلۍ | بوټونه ، بوټان |
| اوربل | پیکی ، پر تندي را ایله وېښتان | زکندن | د ژوند وروتۍ شیبې |

| | | | |
|---|---|---|---|
| پلمه | بهانه | ګرزونه | دوړي |
| مړاوئ | نیم ژواندئ | هجران | خواري ، مشکلات |
| تروږمۍ | د شپې تاریکه چې د سپوږمۍ رڼا نه وي | ښېلتون | جلاوالئ |
| دیدن | لیدنه | رویبار | احوال وړونکئ |
| ګودر | و ویالې غاړه | دارو | دوا |

## د عینو کاریز :

| | | | |
|---|---|---|---|
| کاریز | تر مځکې لاندي اوبه | مېرمن | ښځه ، ماینه |
| فاتح | چې یو هیواد یې نیولئ وي | شان و شوکت | په عزت او لوړوالي |
| سپاهي | عسکر | لښکر | ډېر عسکر |
| نا قراره | نا ارامه | نصیب | برخه |
| پېغور | طعنه ، شرمول | پیره داران | ساتونکي |
| حضور | په وړاندي ، مخ ته | معاف | بخښلئ |
| رباط | په افغانستان کي پخوا د دوو ښارو تر منځ یوه معینه فاصله | | |

## کلتور :

| | | | |
|---|---|---|---|
| ټولنیز | چه په ټولنه پوري اړه ولري | توپیر | فرق |
| کرامت | چي د قدر وړ وي | اړیکي | ارتباط |
| غم ځپلو | په غم اخته | روحاني | بزرګ ، دین دوسته |
| مقدسي | بزرګي ، د قدر وړ | تداوي | علاج ، د ناروغۍ مخه نیول |
| تصادف | چي سړي نه وي غوښتئ | پیر | یو سړی وي چي نور خلک یې موریدان (پیروان) وي |

## جرگه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| تصمیم | عزم | اکثریت | ډېر خلک |

## موسیقي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| حنجره | ستونی | بې هوښه | بې حاله ، بې سده |
| ځناوران | حیوانات لکه زمری | نڅا | اتڼ ، رقص |

## سیدجمال الدین:

| | | | |
|---|---|---|---|
| پوځي | عسکري | عصري | د نوي وخت |
| هلي ځلي | کوښښ | تعلقات | اړیکي |
| شانداره مراسم | په عزت | | |

## ملاله:

| | | | |
|---|---|---|---|
| معاهده | قرارداد | قرباني | جارول |
| ډگر | میدان | ټاکنده | توده ، گرمه |
| خدای رو | قسم په خدای (ج) | بې ننگي | بې غیرتي |
| مجاهدین | هغه څوک چي د هیواد د ازادۍ د پاره جنگیږي | غلیم | دښمن |
| متجاوزین | تیري کوونکي | | |

## ځوانانو ته بلنه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| په مثل | په ډول | شخصي | د چا خپل څه |
| گیره | بند ، نیول سوئ | لافي | باتي |
| سودا | چرت | اقدام | حرکت ، پیل |
| کمی | لږوالی | من | په افغانستان کي د دروندوالي واحد دئ |
| کوه کن | غر ماتوونکئ | تزبزب | شک ، دوه زړه |
| اسره | په یو کار کي چي سړی د ځان گټه په نظر کي لري | تمي (تمه) | امید ، هیله |
| ډبوه | څراغ | توپان | دریاب اوبه چي پورته کښته کیږي |

| | |
|---|---|
| ترهېدلئ | يو ټوکر چي چيري نه سي مګر تارونه يې سره کش سي |
| فرد | يو انسان |
| وقف | پوري تړلئ ، ورکړه سوئ |

## احمد شاه بابا :

| | |
|---|---|
| عظمت | لوی والئ ، عزت |
| عمراني | تعميرونه ابدول |
| مستقيل | جلا ، ازاد |
| نسيم | باد ، شمال |
| فرياد | نارې ، چيغي |
| جدايي | جلا والئ |
| پښتونخوا | د پښتنو خاوره |
| متاع | هر څه چي لري |
| ګزارونه | واري |
| تاختونه | ځغاستي |
| مشته | اوسېدل |
| خاړپوڅو | کوچنی چي پر څلورو ځي |
| تشکيل | جوړ |
| کوهستان | غېرونه ، په افغانستان کي يوه منطقه ده |
| اشنايي | پېژندنه ، شناخت |
| اندېښنې | فکرونه ، چرتونه |
| رقيب | سيال ، چي د سړي سره ځان يو ډول يا لوړ بولي |
| تار په تار | ګڼه و وړه |
| دور | دوره ، وخت |
| ډګرونه | ميدانونه |

## مکاره ګيدړه :

| | |
|---|---|
| مکاره | چال بازه |
| شير | زمری |
| اوربز | د حيوان د مخ هغه برخه چي خوله او پوزه پکښي وي |
| چل | چم |
| ادم | انسان |

زده کوونکي دي د افغاني پخوانیو او اوسنیو عقیدو (عقایدو) په هکله د خپلو والدینو (میندو او پلرو) سره خبري و کړي او هر زده کوونکئ دي د خپلي منطقې د دا ډول عقایدو په هکله ځه و لیکي!

# Undervisnings material för kurs B på gymnasie skolan i pashto

Utarbetat av: Ali Rasulzada, modersmåls lärare i pashto

2009 08 17